جیو افغانیکا
تیوری تحقیق تحلیل

افغاني سید فکري‌دېره

د مونک مناظره

# آیا یوویشتمه پېړۍ به د چین وي؟








فرید ذکریا | هېنري کېسنجر | ډېویډ لي | نیال فرګوسن

# د مونک مناظره
# آیا یوویشتمه پېړۍ به د چین وي؟

---

ژباړه: احمد بلال خلیل

نشروونکی: د جیوافغانیکا د نړیوالو اړیکو مرکز

نېټه: د ۲۰۲۶ کال د فبروري میاشت

لړۍ: د افغاني سید فکري دېره

اړیکه:
geoafghanica@gmail.com
abilalnajeeb@gmail.com

# د جیوافغانیکا په اړه

جیوافغانیکا د پښتو ژبې انلاین پلېټفارم دی، چې موخه یې په علمي او عملي برخه کې د نړیوالو اړیکو وده ده. مور غواړو په پښتو کې د نړیوالو اړیکو په برخه کې د پوهې تشه ډکه، د آی آر او افغانستان‌محوره سیمې په اړه تیوری، تحلیلونه او تحقیقونه وړاندې کړو. تاسو جیوافغانیکا په دې آدرس خارلی شئ (https://geoafghanica.com/)

**زموږ موخه**

● په پښتو ژبه کې د نړیوالو اړیکو د مهمو علمي متنونو ژباړه، چې د آی آر اساسات، تېوری، مېتودونه او مفاهیم بیانوي.

● د آی آر پښتو کولو ترڅنګ، د سیمې او نړیوالو قضایاوو په تړاو، د نړۍ د یو شمېر مفکرینو لیکنې او تحلیلونه ژباړل؛

● د راتلونکو ځوانانو یو داسې ټولی روزل، چې نه یوازې دا چې په نړیوالو ژبو د افغانانو لیدلوری نړیوالو ته وړاندې کړي، بلکې له دولتي نرېټیف (بیانیې) هم کلک ملاتړ وکړي. دغه راز، د اوسنیو ځوانانو ترمنځ پر یو داسې پلېټ‌فارم هم بدلېدل چې په سیمه کې د افغانستان ستونزې او ګټه بایلات بحث کړي. د سیمې د روانو لوبو او سیالیو د تحلیلولو ترڅنګ پر افغانستان د دې ټولو اغېزې هم وشني.

# د جیوافغانیکا خبره

د کاناډا د «مونک مناظرې» د نړۍ پېژندل شوې خبرې راغواړي او په بېلابېلو فکري او ستراتیژیکو بحثونو کې ورسره مناظرې کوي. یو له دغو مناظرو دا وه چې آیا یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي؟

دا مناظره په ۲۰۱۱ کال کې د وتلي امریکایي ریالیست هېنري کېسنجر، نیوکلاسیکل ریالیست فرید ذکریا، چینایي اقتصاد پوه ډېویډ لي او د نړۍ د وتلي سیاسي-اقتصادي مورخ نیال فرګوسن ترمنځ وه.

په دې مناظره کې هېنري کېسنجر او فرید ذکریا تر ډېره پر دې اند وو، چې چین به په یوویشتمه پېړۍ کې یو له مهمو زبرځواکونو وي؛ خو دوی بیا نه شي کولای د یوویشتمې پېړۍ مشري په خپلو لاسونو کې واخلي.

په بل اړخ کې، ډېویډ لي او نیال فرګوسن نه یوازې دا چې چین یو زبر ځواک ګڼي، بلکې روانه پېړۍ هم یوه چینایي پېړۍ بولي.

دا چې دواړه لوري د خپلو خبرو لپاره څه دلایل لري او د یو بل پر دلایلو کومې نیوکې کوي، په دې ژباړه کې به یې ولولئ.

د دې ترځنګ دا چې په نړیواله او سیمه‌ییزه کچه بدلونونه روان دي او دا تر ډېره د چینایي فکتور له کبله دي، نو جیوافغانیکا وغوښتل چې د دې مناظرې ژباړه او لنډیز له خپلو لوستونکو سره شریک کړي. هغه هم په یو داسې مهال چې چین زموږ ګاونډی او په افغانستان کې یې ورځ تر بلې ښکېلتیا زیاتېږي، او په نړیواله کچه د افغانستان دا ستراتیژیک ملګری د افغانستان له بل ستراتیژیک ملګري یعنې هند سره سیالي لري.

# هېنري کېسنجر



هېنري الفرېډ کېسنجر له ۱۹۷۳ کاله تر ۱۹۷۷ کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو ۵۶م د بهرنیو چارو وزیر و. ښاغلی کېسنجر د جیوپولېټېکس یو له تر ټولو اغېزمنو شنونکو شمېرل کېږي.

د بهرنیو چارو وزیر په توګه د هغه له مهمو لاسته راوړنو یوه دا وه چې د امریکا او چین ترمنځ یې د تاریخ په یوه حساسه شېبه کې اړیکې عادي کړې.

له دولتي دندې تر پرېښودو وروسته، کېسنجر د «کېسنجر اسوسیېټس» په نوم یو نړیوال مشورتي شرکت جوړ کړ. ډاکټر کېسنجر په ۱۹۷۳ کال کې د سولې د نوبل جایزه ترلاسه کړه او په ۱۹۷۷ کال کې ورته د امریکا تر ټولو لوړ ملکي مډال، د ولسمشرۍ د ازادۍ مډال، ورکړل شو.

کېسنجر په ۱۹۵۰ کال کې د هارورډ له کالجه د لیسانس (BA) سند ترلاسه کړ، او په ۱۹۵۲ او ۱۹۵۴ کلونو کې یې له هارورډ پوهنتونه د ماسټرۍ (MA) او دوکتورا (PhD) سندونه هم واخیستل.

له ۱۹۵۴ کاله تر ۱۹۷۱ کاله پورې، کېسنجر د هارورډ په پوهنتون کې استاد و. دی له ۱۹۵۷ کال خخه تر ۱۹۶۰ کال پورې د دغه مرکز مرستیال رئیس هم و. نوموړي همدارنګه له ۱۹۵۵ کال خخه تر ۱۹۵۶ کال پورې د بهرنیو اړیکو شورا (Council on Foreign Relations) لپاره د «اټومي وسلو او بهرنۍ پالیسۍ» د څېړنې مشر په توګه هم دنده ترسره کړې وه؛ له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۸ پورې د راکفیلر برادرز فنډ د ځانګړو مطالعاتو د پروژې رئیس و؛ له ۱۹۵۱ تر ۱۹۷۱ پورې د هارورډ د نړیوال سمینار رئیس پاتې شو؛ او د ۱۹۵۸ تر ۱۹۷۱ پورې یې د هارورډ د دفاعي مطالعاتو پروګرام مشري هم کړې وه.

وزیر کېسنجر د امریکا د بهرنۍ پالیسۍ، نړیوالو چارو او ډیپلوماټیک تاریخ په اړه ګڼ کتابونه او مقالې هم لیکلې دي.

# فرید ذکریا



فرید ذکریا دمګړي د بهرني سیاست یو له تر ټولو اغېزمنو سلاکارانو بلل کېږي. په ۲۰۱۰ کال کې د فارن پالیسي مجلې لهخوا د نړۍ د سلو مخکښو مفکرینو په نوملړ کې شامل شو.

ښاغلی ذکریا د سي این این د نړیوالو چارو د مخکښې خپرونې Fareed Zakaria GPS کوربه دی. په دې خپرونه کې ذکریا د دولت له مشرانو، پوهانو او سوداګریزو مشرانو سره مرکې او بحثونه کوي او د نړۍ تر ۳۰۰ میلیونو خلکو پورې یې غږ رسېږي. نوموړی همدارنګه په واشنګټن پوسټ کې لیکوال، په اټلانټېک مرکز کې همکار مدیر، او د نیویارک ټایمز یو له تر ټولو ډېرو پلورل شوو کتابونو لیکوال هم دی.

فرید ذکریا له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې، د ټایمز مجلې د عمومي مدیر په توګه هم دنده ترسره کړې ده او تر دې وړاندې یې د نیوزویک په مجله کې د دې مجلې د بهرنیو هېوادونو له ګڼو څارنه کوله. د هغه کالمونو د کلونو په اوږدو کې ګڼې جایزې ترلاسه کړې دي، چې په ۲۰۱۰ کال کې د ملي مجلو جایزه (National Magazine Award) هم پکې شامله ده. د نوموړي د ۲۰۰۱ کال د نیوزویک یوه لیکنه « هغوی ولې له موږ کرکه کوي؟» (Why They Hate Us) تر ټولو ډېره مشهوره او ستایل شوې لیکنه بلل کېږي.

فرید ذکریا د یو شمېرو ممهمو کتابونو لیکوال هم دی. د هغه د ۲۰۰۸ کال کتاب له امریکا وروسته نړۍ د نیویارک ټایمز په ورځپاڼه کې د تر ډېرو پلورل شوو کتابونو له ډلې و، او د ایکانومېست مجلې دی د «نړیوالو ننګونو پر وړاندې یو پیاوړی لارښود» وباله. همدارنګه، په ۲۰۰۳ کال کې د فرید ذکریا کتاب د آزادۍ راتلونکی هم د نیویارک ټایمز یو له تر ټولو ډېر پلورل شوی اثر وګڼل شو چې شاوخوا ۲۵ ژبو ته ژباړل شوی دی.

فرید زکریا په هند کې زېږېدلی، د ییل له کالجه یې د لېسانس سند ترلاسه کړی او د هارورډ له پوهنتونه یې دکتورا اخیستې ده. ذکریا دا مهال په نیویارک ښار کې له خپلې مېرمنې او درې اولادونو سره ژوند کوي.

# نیال فرګوسن



نیال فرګوسن له اکسفورډه ماستري او دکتورا ترلاسه کړې او ډېرى لیکنې او کتابونه یې پر تاریخ راڅرخېږي. دى د سټانفورډ په پوهنتون کې مشر څېړونکى دى او همدا رنګه د هارورډ په پوهنتون کې د نړیوالو چارو د بېلفر مرکز لوړ پوړى همکار استاد هم دى.

هغه سربېره پر دې، د چین د بېجینګ په ښار کې په شینګوا پوهنتون کې د مېلمه استاد په توګه هم دنده ترسره کړې ده.

فرګوسن د پنځلسو مشهورو کتابونو لیکوال دى، د بېلګې په توګه:
The Pity of War
The House of Rothschild
Empire
Civilization
Kissinger 1923–1968: The Idealist

د فرګوسن د کېسنجر په اړه کتاب د بهرنیو اړیکو له شورا (Council on Foreign Relations) د ارتر راس جایزه هم ګټلې ده.

د دې ترڅنګ نوموړى ډاکومنټري هم جوړوي او د PBS لپاره د هغه د The Ascent of Money په نوم لړۍ د ایمي نړیواله جایزه هم ګټلې ده.

فرګوسن سربېره پر دې د لندن د Sunday Times او د Boston Globe لپاره اونیز کالمونه هم لیکي، د Greenmantle LLC په نوم د یوې مشورتي اداري بنسټ‌ایښودونکى او اجرائیوي رئیس هم دى.

د هغه تر ټولو وروستى کتاب The Square and the Tower په ۲۰۱۸ کال کې په متحده ایالاتو کې خپور شو او د New York Times یو له تر ټولو ډېرو پلورل شویو کتابونو له ډلې و.

# ډېوېډ لي



ډېوډ لي د بېجينګ په شېنګوا پوهنتون کې د «د نړۍ په اقتصاد کې د چين مرکز» رئيس دی. دی دا مهال د اقتصادي بدلون، شرکتونو مالي چارو، نړيوال اقتصاد او د چين د اقتصاد په اړه لېکچرونه ورکوي.

پروفيسور لي د چين د مرکزي بانک د پولي سياست د کمېټې له درېيو علمي غړو يو دی. نوموړی د بېجينګ د خلکو د کانګرس استازی او د چين د خلکو سياسي مشورتي کنفرانس (CPPCC) غړی هم دی.

د هغه د ماشومتوب يوه برخه د سېچوان په ولايت کې تېره شوي، ځکه مور و پلار يې د چين د کلتوري انقلاب پر مهال کليوالو سيمو ته شړل شوي وو.

لي له ۱۹۸۵ کال راهيسې، د شينګوا په پوهنتون کې د اقتصاد او مديريت پوهنځي د لومړۍ دورې له محصلينو و، او په ۱۹۹۲ کال کې يې له هارورډ پوهنتونه په اقتصاد کې دکتورا ترلاسه کړه.

د ښاغلي لي اوسنی څېړنيز تمرکز د چين لوی اقتصاد (Macroeconomy)، د اقتصادي پراختيا ماډلونه، د اقتصادي ودې نړيوالې پرتلهييزې څېړنې، او د چين اړتيا او تقاضا ده.

پروفيسور لي د هارورډ د نړيوالې پراختيا په مرکز کې د مېلمه څېړونکي (۱۹۸۶)، د ميشيګن پوهنتون ـ اېن اربر کې د مرستيال استاد، د سټانفورډ پوهنتون د هوور انسټيټيوټ د څېړنيز همکار، او د هانګ کانګ د ساينس او ټکنالوژۍ په پوهنتون کې د اقتصادي پراختيا د څېړنيز مرکز د استاد او مرستيال رئيس په توګه هم دندې ترسره کړې دي.

دی همدارنګه د (۲۰۰۳–۲۰۰۰) Journal of Comparative Economics او Economics Bulletin د مجلو مدير هم پاتې شوی او د سيچوان او نانکای پوهنتونونو افتخاري استاد هم ټاکل شوی دی.

پروفيسور لي په ۲۰۰۴ کال کې چين ته ستون شو، څو په خپل پخواني پوهنتون شينګوا کې تدريس وکړي او د «د نړۍ په اقتصاد کې د چين مرکز» مشري پر غاړه واخلي.

نوموړی دا مهال په بېجينګ ښار کې له خپلې مېرمنې او دوو اولادونو سره ژوند کوي.




**روډيارډ ګريفيتس:** ښاغلو او آغلو ښه راغلاست! مورږ د چين په تړاو د «مونک بحث» په لړ کې راغونډ شوي يو. زما نوم روډيارډ ګريفيتس دی، زه له «پاټريک لوسياني» سره په ګډه د مونک بحثونو چمتوکوونکی يم. دا زما لپاره د ډېر وياړ ځای دی، چې يو ځل بيا د بحث چلوونکی يم.

لومړی د ټولو هغو زرګونو خلکو هرکلی کوم، چې دا بحث په ژوندۍ بڼه، په انټرنېټ کې د globeandmail.com او munkdebates.com وېبپاڼو له لاروويني. دا د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې تاسو ټول له مورږ سره يوځای د دې بحث ګډونوال ياست. دغه راز له هغو خلکو هم هرکلی کوم، چې د دې بحث ليدونکي، اوريدونکي او يا هم لوستونکي دي؛ په تېره بيا د استراليا د نشراتو شرکت، امريکا کې C-SPAN، چين کې د پيپلز ډيلي انلاين او په لندن کې فاينينشل ټايمز او د دې ورځپاڼې اړونده د چين څېړنيزه برخه.

کاناډايانو ته هم هرکلی وايم، چې ځای ځای د CBC راډيو او د Canadian Public Affairs Channel (CPAC) له لارې د دغه بحث اوريدونکي او ليدونکي دي، له هغه ځايه هم چې زه پکې د يو تلويزوني پروګرام کوربه يم (Business News Network). ډېر خوښ يم، چې تاسو له مورږ سره په دې بحث کې ګډون کوئ. په پای کې د سالون ټولو راغليو ګډونوالو ته هم ښه راغلاست وايم.

هر څوک چې له دې پروژې سره تړل شوي؛ ستاسو له ملاتړه هم منندوی يو، چې د دا ډول بحثونو په غځولو کې راسره همکار ياست.

د نن بحث به تر ډېره دا پوښتنه ځواب کړي، چې آيا يوويشتمه پېړۍ به يوه چينايي پېړۍ وي؟ راځئ له خپلو مناظره كوونكو تود هركلی وكړو. دي پوښتني ته مثبت ځواب وركوونكي نيال فرګوسن او ډيويډلي او منفي ځواب وركوونكي فريد زكريا او هينري كېسنجر دي.

نيال فرګوسن د يو شمېر زياتو پلورل شوو كتابونو ليكوال دی او د نړۍ په بېلابېلو برخو كې لكه هارورډ پوهنتون، اكسفورډ پوهنتون او لندن سكول آف اكنامكس كې يې استادي كړې ده.

زموږ دويم مناظره كوونكی ډيويډلي د چين له بيجينګ سره تړاو لري. ده له هارورډ پوهنتونه دكتورا ترلاسه كړې، دمګړي د چين په مركزي بانک كې د مالي پاليسۍ د مشاورتي بورډ غړی او د چين په پوهنتونونو كې استاد دی.

دريېم بحث كوونكی فريد زكريا دی. دی د سي اين اين د يو مشهور پروګرام كوربه، د ټايم مجلې او واشنګټن پوست ورځپاڼې اېډېټر دی.

زموږ وروستی بحث كوونكی په نړيوالو چارو كې نړدې نيمه پېړۍ محوري رول لوبولی او د سولې نوبل جايزه يې هم ترلاسه كړې ده. ډاكټر كېسنجر د امريكا ۵۶م د بهرنيو چارو وزير و.

اوس زه غواړم چې نيال فرګوسن خپله پېليزه وينا وكړي. تاسو شپږ دقيقې وخت لرئ.

**نيال فرګوسن:** مننه روډيارډ او مننه ښاغلو و اغلو. زه باوري يم، چې يوويشتمه پېړۍ به يوه چينايي پېړۍ وي؛ ځكه په تېر كې ډېری پېړۍ هم چينايي پېړۍ وې؛ خو نولسمې او شلمې پېړۍ بيا استثنی وې. له وروستېو شلو پېړيو، په اتلسو پېړيو كې چين د نړۍ تر ټولو ستر اقتصاد درلود.

اجازه راكړئ يو شمېر ډيموګرافيكي او اقتصادي احصايې وړاندې كړم:

چين د يوه هېواد پر ځای تر ډېره يوه لويه وچه ده. په چين كې د نړۍ پينځمه برخه وګړي اوسېږي. چين په مساحت كې له كاناډا څو ځله لوی دی. كه چېرې د اروپا په څېر ترتيب/تنظيم شي، نو دا به نږدې پر نويو (۹۰) ملي حكومتونو ووېشل شي. اوسمهال د چين يوولس ښارونه نږدې له شپږو ميليونو نفوسو زيات وګړي لري؛ خو په اروپا كې بيا يوازې يو ښار داسې دی، چې له شپږو ميليونو ډېر وګړي لري او هغه هم لندن دی. دغه راز په اروپايي ټولنه كې نږدې يوولس داسې هېوادونه دي، چې نفوس يې له شپږو ميليونو كم دي. په تېرو دريېو لسيزو كې، د چين اقتصادي وده په كلنۍ ډول نږدې لس سلنه زياته شوې او د آی ايم ايف په وينا چين به په راتلونكو څو كلونو كې د نړۍ تر ټولو ستر اقتصادي ځواک وي. چين اوسمهال د توليد او د موټرونو د ماركېټ په برخو كې نه يوازې دا چې له امريكا مخكې ده، بلكې په نړيواله كچه لومړی مقام لري. په چين كې د موټرونو تقاضا به په راتلونكو كلونو كې نږدې لس سلنه زياته شي او تر ۲۰۳۵ كال پورې به چين د نړيوالې انرژۍ پينځمه برخه مصرفوي. چين به په تېر كې بهرنيو پانګونو ته سترګې په لاره و؛ خو اوس چين د ۳ ټريليونو ډالرو د ريزرف او نږدې د ۲۰۰ مليماردو ډالرو سورن فنډ په درلودلو پر يو پانګوال بدل شوی دی.

له دي ورهاخوا تر ټولو مهمه دا ده، چې چین د نوښت او زده کړې په برخو کې هم د نړۍ مخکښو هېوادونو ته ورنږدې کېږي. شونې ده چې چین د نوښت د حقونو په برخه کې له جرمني مخکې شي. همدا راز، یوه سروې ښیي، چې د پنځلسو کلونو زده کړیالانو د ریاضي په یو امتحان کې د شانګهای محصلینو تر ټولو ډېرې نومرې ترلاسه کړې وې او دا نږدې ۶۰۰ نومرې وې. امریکا تقریباً په پینځه ویشتم نمبر و، نومرې یې ۴۸۷ وې. ستاسو د حېرانتیا لپاره باید ووایم چې د کاناډا نومرې ۵۲۷ وې. که څه هم دا نومرې له امریکا لوړې وې؛ خو بیا هم ډېرې ښې نه وې.

ښاغلو او آغلو! دا زما لپاره ډېره آسانه نه ده، چې له خپل سیال مناظره کوونکي (هینري کېسنجر) سره د هغه د ژوندلیکونکي په توګه مناظره وکړم. دا داسې ده، لکه جیمز بوسویل چې له ډاکټر جانسن سره مناظره کوي. خو بیا هم هغه څه چې زه یې سپارښتنه کوم؛ هغه دا ده چې ډاکټر کېسنجر او شاید فرید زکریا هم، د مناظرې په غلط اړخ کې ناست دي. اجازه راکړئ، چې د چین په تړاو د ډاکټر کېسنجر له کتابه یو اقتباس نقل قول کړم. دی لیکي: «د چین دا هڅه چې له امریکا سره په برابرۍ او په مشارکت کې دننه شي. دا تر ډېره د چین له اقتصادي او مالیاتي وړتیاوو پورې تړل شوې» یا د فرید ذکریا له کتاب «له امریکا وروسته نړۍ» څخه یو اقتباس تاسو ته وړاندې کړم. فرید زکریا لیکي: «چین یو داسې هېواد دی، چې تله یې له امریکا درنه ده او چین د بریاوو لپاره ترې ده».

دا د ډېرې خوښۍ ځای دی، چې دا دوه ستر جیوپولیټیکي مفکرین له دې سره همغږي دي، چې د چین اقتصادي ننګونه به د امریکا د هژموني (زبرځواکۍ) لپاره هم یوه ننګونه وي. یو ځل بیا غواړم، چې ډاکټر کېسنجر اقتباس کړم. دی لیکي: «په آسیا کې د امریکا له خوا د یوې داسې پروژې عیارول چې موخه یې د چین ایسارول او یا هم د یوې ایډیالوژیکي صلیبي جګړې په موخه د چین پر وړاندې د ډیموکراتیکو هېوادونو د یو بلاک رامنځته کول وي، به تر ډېره ناممکنه وي، ځو دوی په دې هڅه کې بریالی شي». دی هیله من دی، لکه څرنګه یې چې په خپل کتاب کې وایي، د یوې سوله ییزې همزیستۍ لپاره؛ خو ترځنګ یې دی سل کلونه وړاندې د جرمني د هغه عروج له تکراره هم وېره لري چې انګلستان یې وننګاوه.

خو زما په اند دا یوازې د چین له کبله نه دي. په یوویشتمه پېړۍ کې د چین د تسلط کیلي د لویدیځ له زوال سره هم تړل شوې. یو مالیاتي بحران چې د ډېرو پورونو په اخیستلو او د مساعدې (سبسیډي) د قمار له کبله رامنځته شوی و؛ یو بودیجوي بحران د امریکا لپاره بیا دا مانا لري، چې امریکا به له خپلې دفاع ډېر د پورونو د ورکړې پر سود مصرفوي؛ سیاسي بحران د روسانو له کبله رامنځته شوی دی او یو اخلاقي بحران چې اوس یې د امریکا ټولنه په خپله ولکه کې نیولې ده.

یوویشتمه پېړۍ به د یوې ډېرې وزن لرونکې، زیاتې پراخېدونکې، زیاتې ګټه اخیستونکې امریکا له کبله یوه چینایي پېړۍ وي؛ هېره دې نه وي، چې دلته مور د یوې ناچلې اروپا یادونه نه کوو.


munk



ځلور لسيزې وړاندې او تر ټولو دمخه د امريکا ولسمشر ريچارډ نکسن دغه ټکی په ښه توګه درک کړی و. دی وايي: «تاسو تم شئ او لږ فکر وکړئ، چې يو څوک د حکومتولۍ له يوه غوره سيستم سره پر چين تسلط پيدا کړي. آه زما ربه! په ټوله نړۍ کې به داسې ځواک نه وي، چې د دوی مخه ونيسي... زما موخه دا ده چې که تاسو ۸۰۰ ميليونه چينايان تر يوه غوره سيستم لاندې کار ته سوق کړئ، نو هغوی به په نړۍ واکمني وکړي».

**روډيارډ ګريفيتس:** فريد زکريا! ستاسو د پيليزې وينا نوبت دی. مهرباني وکړئ!

**فريد زکريا:** ډېره زياته مننه. دا زما لپاره ستونزمنه ده، چې له نيال فرګوسن وروسته خبرې وکړم. زما رول په دې مناظره کې دا دی، چې زه د مناظره کوونکو اوسط سن را کم کړم. زه به خپله هڅه وکړم بې له دې چې د مناظره کوونکو اوسطه آی کيو هم راکمه کړم؛ خو ترڅنګ يې وېره لرم، چې ښايي دغه چاره به هم رانه وشي. اجازه راکړئ ، او ما وبښئ او هينري کېسنجر به هم زما تېروتنې تصحيح کړي، چې له ما به ترسره کېږي، خو ترڅنګ يې دا هيله هم لرم، چې هينري کېسنجر به خپل ژوند ليکونکی (نيال فروګسن) هم له دندې ګوښه کړي (موسکا).

زه په رښتيا هم لږ اندېښمن غوندې وم، چې په دې مناظره کې به له هينري سره يوځای څرنګه برخه اخلم. څکه دی يو نوموتی نابغه دی؛ خو په بل اړخ کې د بحث/مناظرې يوه برخه اورېدنه هم ده. ماته د هينري کېسنجر په تړاو يوه کيسه رايادېږي؛ خو ما يې حقانيت نه دی کره کړی. کيسه څه دا ډول ده. تاسو خو ټول پوهېږئ، چې هينري کېسنجر يوه نوموتې لهجه لري. د ده ملګري دا هم وايي، چې دی په جرمنۍ ژبه کې هم يوه ځانګړې لهجه لري. يو چا د هينري کېسنجر له مشر وروره وپوښتل چې تاسو خو ډېره ښه امريکايي انګليسي وايئ، بې د جرمني له کومې لهجې: خو بيا هم ستا او د ورور ترمنځ مو د انګريزۍ په ويلو کې دومره لوی توپير ولې شته؟ هغه وويل: دا يوه ډېره ساده خبره ده څکه هينري هېڅ کله هم چاته غوږ نه ږدي.

زه غواړم د چين په تړاو درېيو ټکو ته اشاره وکړم. چين به په يوويشتمه پېړۍ کې يو برلاسی ځواک نه وي. روانه پېړۍ به د درېيو لاملونو له کبله د چين پېړۍ نه وي. دا درې لاملونه اقتصادي، سياسي او جيوپوليټيکي دي. لومړی لامل اقتصادي دی او يو شی چې د وروستېو پېړيو په جريان کې موږ په ښه توګه درک کړی هغه دا دی چې هېڅ څه هم د تل لپاره په يوه مستقيمه کرښه نه درومي. موږ ته خلک داسې ښيي، چې نړۍ به چين ته په ميراث کې رسېږي؛ خو دوی هېره کړې جاپان هم يو څه وخت وړاندې همدا ډول يو څه و. جاپان د نړۍ دويم ستر اقتصادي ځواک و، زه نه پوهېږم، چې په تاسو کې به د څو تنو په ياد وي، چې هغه مهال به خلکو ويل چې زموږ نړۍ پر يوې جاپانۍ نړۍ بدلېږي. موږ ټول به د سوشي خوراک کوو. که څه هم موږ اوس هم د سوشي خوراک کوو؛ خو بيا هم له دې پرته نورې ټولې وړاندوينې ناسمې وختلې.

که ستاسو په ياد وي، د ډېری آسيايي پړانګانو اقتصاد هم تر شلو او پينځه ويشتو کلونو لپاره په اوسط ډول تر ۹ سلنه زياتېده؛ خو بيا هم د هغوی اقتصادي وده مخ پر کمېدو ولاړه او په پای کې دغه وده شپږ يا پينځه سلنه شوه. زه نه غواړم چې يو نه يو ډول د چين د اقتصادي

ودې د سقوط وړاندوینه وکړم؛ خو یوازې په ساده توګه ویل غواړم، چین هم د لوړو ارقامو له قانونه مستثنا نه دی او د دوی اقتصادي وده به هم مخ پر کمېدو ځي؛ خو د نورو هېوادونو په پرتله د دوی اقتصادي وده شاید یو څه ځنډنۍ شي؛ ځکه دا د دوی د لوی هېواد له کبله دی.

دا هم د یادونې وړ دي، چې د چینايي سیستم دننه یو شمېر سترې بې کفایتۍ هم شته. د چین اقتصادي وده تر ټولو لوړه «بېکفایتي» ده. د چین میاشتینۍ بهرنۍ پانګونه د هند د کلنۍ بهرنۍ پانګونې برابره ده؛ خو بیا هم چین له هنده یوازې دوه سلنه زیاته وده کوي. او یا که تاسو د چین ودې د کیفیت په تړاو فکر وکړئ؛ نو دا دومره اغېزناکه وده هم نه ده لکه څنګه چې موږ ته ښکاري. هلته ډېرې پانګونې په هوايي ډګرونو، اته لیني سړکونو او په چټکو ریل ګاډیو کې کېږي؛ خو که تاسو وګورئ چې چین د دغو پانګونو په بدل کې څه ترلاسه کوي، نو دا بیا دومره ډېره ګټه نه ده.

د ملګرو ملتونو یو وروستۍ راپور ښيي، چې چین به په راتلونکو شلو یا پنځه ویشتو کلونو کې له یو ډیموګرافیک سقوط/ځوړتیا سره مخ شي. په چین کې به نفوس تقریباً څلور سوه میلیونه کم شي، په انساني تاریخ کې داسې کومه پېښه نه ده ثبت شوې چې یو برلاسۍ ځواک دې په ډیموګرافیکي توګه هم مخ پر ځوړ وي؛ دا هېڅ مهال هم نه دي پېښ شوي. که تاسو غواړئ وګورئ، یو هېواد په ډیموګرافیکي زوال کې څنګه ښکاري؛ نو تاسو جاپان ته ځیر شئ او له ځانه وپوښتئ، چې جاپان څومره ځواکمن دی؟! (چین اوسمهال د دې ډیموګرافیکي سقوط د مخنیوي په موخه د «یو ماشوم» په پالیسۍ کې نرمښت راوستی دی. ژباړن)

ان که چین د نړۍ تر ټولو ستر اقتصادي ځواک هم وي، نو دغه احصاییه تر ډېره د پېرودلو قدرت پر برابرۍ بناء ده. د چین ناخالصه داخلي تولیدات یعنې جي ډي پي پر انفلاسیون اخته شوی. په بیجینګ کې د ویښتانو کمولو لګښت له ټورنټو کم دي؛ خو نړیوال سلطه لرونکی ځواک بیا د ویښتانو د کمولو له قیمت سره نه دی تړل شوی. دا بیا تر ډېره له بهرنیو مرستو، تېل، نړیوالې پانګونې، له الوتکو درلودونکو بېړیو سره تړل شوي؛ سختې او حقیقي پیسې بیا د دې ټولو لپاره اړین دي او دا بیا دا شمېرې تر یوه حده تنظیموي هم.

راځئ موږ به دا درسره ومنو، چې چین د نړۍ تر ټولو ستر اقتصادي ځواک دی؛ خو آیا چین دا سیاسي ظرفیت هم لري، څو یوه داسې رهبري وړاندې کړي چې اړتیا یې ده؟ په یاد ولرئ، چې جاپان هم تر څو لسیزو پورې د نړۍ دویم ستر اقتصادي ځواک و؛ خو ما هېڅ مهال هم د هغوی له اړخه داسې کومه هیژومنیکي نقشه ونه لیده. سیاسي ظرفیت ته اړتیا ده، څو تاسو پر دې وتوانېږئ، هغه ډول رهبري وړاندې کړئ، چې اړتیا یې ده. هینري به په دې تړاو ډېر څه ووایي؛ خو زه غواړم دا ووایم چې چین له یوه داسې سیاسي سیستمه رهبري کېږي، چې هغه بیا له بحران سره مخ ده.

دا نامعلومه ده، چې آيا د چين راتلونکی به هم هماغسې وي، لکه اوس چې دی. چين تر اوسه خپله دغه اوسنی بنسټيزه ستونزه نه ده اواره کړې، چې کله هغوی يو منځنی پاړکی جوړ کړ. دوی به له دې پاړکي سره څه وکړي؟ حکومت به د دې نوي رامنځته کېدونکي منځني پاړکي مُرادونو ته څه ډول غبرګون ښيي؟ کله چې تايوان له همدې پروسې ووت؛ نو هلته انتقالي پړاو د ډيموکراسی پر لور ولاړ. همدا ډول سويلي کوريا چې هم له ورته پروسې تېر شو، هلته هم انتقالي پړاو د ډيموکراسی پر لور ولاړ. دغه انتقالي پړاوونه آسان پړاوونه نه دي. دا تر ډېره خونړی او نابسامانه وي. لکه څنګه چې نيال فروګوسن موږ ته په ياد کړه، چين يو ډېر ستر هېواد دی او يو ستر پيچلی هېواد هم دی. تاسو په دې نوې مرحله کې پر يوې سياسي او ټولنيزې بې ثباتی لږ غور وکړئ؟

په پای کې غواړم يو ټکی د جيوپولټيک په تړاو وکړم او بيا به هينري په دې تړاو ډېر څه ووايي. خلک د آسيا د عروج په تړاو غږېږي. زه په هند کې لوی شوی يم. د آسيا په نامه هېڅ هم نشته. هلته چين دی، جاپان دی او هند دی. دوی تر ډېره يو بل نه خوښوي او څنګه به چې چين راپورته شي؛ نو هلته به د هند، جاپان، سويلي کوريا، اندونيزيا، ويتنام له غبرګونونو سره مخ شي. موږ تيار دا حالات ليدلی دی. چين په يوه تشه کې د عروج پر لور نه دی روان. دا په يوه داسې لويه وچه کې مخ پر لوړې روان دی، چې هلته يې ډېر سيالان پراته دي.

**روډيارډ ګريفيتس:** ډيويډلي ستاسو نوبت دی.

**ډيويډلي:** مازديګر په خېر ښاغلو او آغلو. له چينه د يوازيني مناظره کوونکي په توګه زه ځان تر ډېره معلوله ګڼم؛ ځکه زموږ په کلتور او يا هم زموږ د لوړو زده کړو سيستم تر ډېره د مناظرو پلوی نه دی او بيا هم په تېره بيا چې د يو مشر عاقل په مخالفت کې مناظره کوئ (هينري کېسنجر ته اشاره ده). نن به زه تاسو ټول وهڅوم، چې په دې بحث کې د بحث کوونکو تر ټولو زيات پلورل شوي کتابونه ولولئ. دا کتابونه به په ډېره په اسانی تاسو ته دروښيي، چې په تېرو څو لسيزو کې په چين کې څومره ستر بدلونونه راغلي دي او دغه راز د غرونو په څېر څومره سترې ننګونې هم مخ پر وړاندې لري. لکه څنګه چې فريد زکريا توضيح ورکړه؛ همدا نن يې تاسو کتابونه وپېرئ. زه د دوی د ټکو پلوی يم؛ خو زه غواړم له تاسو سره درې ساده ټکي شريک کړم. دا درې ټکي موږ په درېيو ټکو کې خلاصه کولای شو: لومړی کليدي ټکی انرژي ده. زه استدلال کوم، چې په وروستېو څو لسيزو کې په چين کې د څومره بدلونونو شاهدان يو؛ نو دا تقريباً نيم ترسره شوي دي. موږ به په چين کې دا ډول دوامداره بدلونونه ووينو. ولې؟ ځکه چين يوه نوې انرژي لري. د دوامداره بدلون لپاره انرژي ان که دا سياسي او اقتصادي بدلونونه هم نه وي. دا بدلونونه د چين او لويديځ ترمنځ د تمدنونو د ټکر له کبله رامنځته شوي دي او تقريباً تر ۱۷۰ کلونو پورې مخينه لري. دا د تمدنونو جګړه د چين لپاره بشپړه ناکامي وه. دا زموږ لپاره تر ټولو ډېره حقارت کوونکې وه. دا موږ ته له يو نسله تر بل نسله په بشپړه توګه ياده ده. زموږ ماشومان اوس هم دغه لوستونه يادوي. دې حقارت د چين په تاريخ او په چينايي ټولنه کې پراخ غبرګون او فوق العاده عمل رامنځته کړی دی، په تېره بيا د چينايي کمونست ګوند د ۹۰ کلونو په تاريخ کې. دوی غوښتل يو خپلواک او ځواکمن چين رامنځته کړي، پرته له دې چې په نړۍ کې پروليتاري انقلاب خپور کړي.

د چین د خلکو جمهوریت له پیدایښته وروسته، نږدې ۶۲ کلونه وړاندې، موږ له کمونیستي ګوند څخه فوق العاده غبرګون ولید او له حکومته مو د (Great Leap Forward) او کلتوري انقلاب په بڼه هم ولید؛ خو دغو یو هم چینايي ژوند ته ګټه ونه شوه رسولای. او نه هم یوه د چینایانو ګټې غښتلې کړې؛ خو دا دېرش کاله وړاندې، چې له کبله یې په چین کې ستر بدلونونه رامنځته شوي. دې ته موږ رفارم او خلاصېدنه وایو.

رفارم زموږ په ادارو کې یو تدریجي غوره والي ته وايي. ان دې دا سیاسي او اقتصادي رفارم هم نه وي. له خلاصېدنې/پرانیستنې څخه مراد دا دي چې په لویدیځ کې چې څه غوره دي، د هغې زده کول دي. خلکو په پېل کې د رفارم او خلاصېدنې پر پیغام باور نه درلود، لکه څرنګه چې یې فرید زکریا هم وايي؛ خو زموږ ستر رهبر ډېنګ شیوپینګ به ویل، مناظرې مه کوئ، عمل کوئ!. زما په ګومان ډېنګ شیوپینګ به د «مونک» مناظرو ډېر شوقي نه و. دی به شاید د «نایک» ډېر شوقي و: فقط ویې کړئ! په حقیقت کې د وروستیو درېیو لسیزو بدلون د رفارم او خلاصېدنې ځواک ښودنه کړې.
اوسمهال ځوان وګړي زموږ له پرمختګه ناخوښه دي. دوی ډېره لېوالتیا لري، چې پر نورو رفارمونو او خلاصېدنې ټینګار وشي. هغوی لېواله دي، چې د انټرنیټ د ځواک له کبله د نورو رفارمونو او خلاصېدنې لپاره هلې ځلې وکړي. زما دا لومړنی پیغام د انرژۍ په تړاو و. انرژي اوس هم په چین کې شته ده؛ خو پوښتنه دا ده چې موږ پر کوم لوري روان یو، زموږ مسیر پر کوم لوري روان دی؟ زموږ منزل او مسیر د دویم کلیدي ټکي پر لور دی، چې هغه بیا زېږېدنه یا بیا احیاِ ده. زموږ مسیر/منزل زموږ د ستر تمدن د «ټانګ کورنۍ» واکمني ده، چې ۱۵۰۰ کاله وړاندې تېره شوې. زموږ بیا احیاء له لویدیځه غچ اخیستنه نه ده او یا هم په نړیواله کچه پر امریکا د پرېکړییزې سلطې بریا لمانځنه نه ده. بلکې د یو سوله ییز، پر ځان باورې او پرانیستي تمدن بیا احیا ده په تېره بیا د ټانک کورنۍ. همدا د دې بدلون منزل دی او په دې تړاو موږ تر اوسه خپل نیمایي مزل وهلی دی.

درېیم کلیدي ټکی چې زه یې له تاسو سره شریکول غواړم هغه نفوذ دی. څه ډول نفوذ او یا دا چې په راروانو نویو (۹۰) کلونو کې به چین په نړۍ کې څه ډول نفوذ ولري. زه غواړم استدلال وکړم چې دا ډول نفوذ به څو بُعدي وي. لومړی؛ د چین رامنځته کېدنه د نړۍ هغو بې وزلو سیمو لکه افریقا او نورو کم پرمختللو سیمو ته هیله ورکړي. هغه خلک چې په دې سیمو کې اوسېږي، هغوی به له ځانه وپوښتي، چې چین هم بې وزله و، چین هم د طبیعي وسایلو له ګرداب سره مخ و. که چین یې کولای شي؛ نو موږ یې ولې نه شو کولای. له همدې ځایه، موږ د نړۍ ډېرو بېوزلو ته دا هیله ورکړه. دا د نفوذ لومړی بُعد دی. د چینايي نفوذ دویم بُعد نورو ته د ټولنیزو او اقتصادي ادارو د یو بدیل ماډل ورکړه ده، چې هغه بیا د لویدیځ او په تېره بیا د امریکا له ماډل سره توپیر لري. په دې چینايي ماډل کې که موږ یې د لویدیځ له ماډل سره پرتله کړو؛ نو ډېر وزن د انفرادي آزادي پرځای ټولنیز بهبود او ټولنیز ثبات ته ورکړل شوی دی. د چین د نفوذ درېیم بُعد نړیوالې اړیکې دي. د چین د ستر تمدن په تېره بیا د «ټانک کورنۍ» بیا احیاء به موږ ته یو نوی پاملښت (فوکس) راکړي؛ په نړیوالو اړیکو کې یې پاملرنه د سولې او همکارۍ په تکل کې ده. موږ دا د نړیوال مالي بحران په تېرو دوو کلونو کې ولیدل. زه خپل نظر پر تاسو نه تپم؛ برعکس زه له تاسو غواړم، چې تاسو په خپله خپلو پایلو ته ورسېږئ، په تېره بیا د انرژۍ، بیا احیاء او نړیوال نفوذ ته په کتلو سره. مننه!

**روډیارډ ګریفیتس:** ډاکټر کېسنجر ستاسو نوبت دی.

**هینري کېسنجر:** د یو داسې چا لپاره چې مورنۍ ژبه یې جرمني ده، په انګریزۍ کې شپږ دقیقې وخت زما په ګومان ډېر کم وخت دی خو پکې زه ان یوه جمله هم وویلای شم؛ خو بیا هم.... زما د دې بحث همکارانو د چین د عظمت په باب ډېرې خبرې وکړې، زه د چین فوق العاده لاسته راوړنو ته درناوی لرم او هېڅوک به هم له دې حقیقته سترګې پټې نه کړي. زه هم د نورو په څېر پر دې خبرې ټینګار کوم، چې چین په وروستیو څلورو لسیزو کې، هغه چې ما په مخامخ لیدلی دی، ډېر څه ترلاسه کړي؛ خو زموږ پر وړاندې تر ټولو اساسي پوښتنه دا نه ده، بلکې زموږ د بحث اصلي موضوع دا ده چې آیا یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي او که نه؟ زه وایم چې چین به په یوویشتمه پېړۍ کې نه دا چې په محلي کچه له یو شمېر پراخو ستونزو سره مخ شي، بلکې له خپلو نږدې ګاونډیانو سره هم ښکېل شي. له همدې کبله زما لپاره دا ستونزمنه ده، چې زه یوه چینایي محوره نړۍ په ذهن کې انځور کړم. زه په دې باوري یم، چې دا مفکوره چې یوازې یو هېواد دې پر نړۍ سلطه ولري، دا په خپله زموږ د نړۍ یوه تېروتنه ده، چې موږ پکې اوسېږو.

چین په اقتصادي توګه ډېر څه ترلاسه کړي دي؛ خو دا یو داسې هېواد هم دی، چې باید هر کال ۲۴ میلیونو خلکو ته کاري فرصتونه پیدا کړي، هر کال تقریباً ۶ میلیونه خلک په خپلو ښارونو کې جذب کړي او دغه راز دا باید له خپلو ۱۵۰ تر ۲۰۰ میلیونو بدلېدونکي-رابدلېدونکي نفوس سره هم سر و کار ولري، دغه راز دا باید له خپلې ټولنې سره هم مناسب چلند وکړي، چې پکې د چین ساحلي سیمې د پرمختللو هېوادونو په څېر دي او له سواحلو د لرې سیمو د ژوندانه کچه بیا د وروسته پاتو هېوادونو په څېر دي. چین باید له دې ټولو سره په یو سیاسي نظام کې مناسب چلند وکړي.

د جیوپولټیکي لیدلوري له مخې، چین په تاریخي توګه د یو شمېر وړو هېوادونو په انحصار کې پاتې شوی، او دا هېوادونه په انفرادي توګه نه شي کولای چین وګواښي. خو که چېرې متحد شي؛ نو د چین لپاره ګواښ جوړولای شي. له همدې ځایه په تاریخي توګه د چین بهرنۍ تګلاره د بربریانو د اداره کولو په توګه هم پېژندلای شو. چین به هېڅ مهال هم له برابرو ځواکونو هېوادونو سره معامله ونه کړي. ځکه له یوې داسې نړۍ سره تطابق د چین لپاره هم یوه ننګونه ده. اوسمهال چین تقریباً ۱۴ ګاونډیان لري، چې یو شمېر یې واړه هېوادونه دي او خپل هویتونه له چینایانو سره تړي، یو شمېر یې بیا ستر دي او په تاریخي توګه مهم هم دي. د چین له خوا به چې هر وخت پر نړۍ د سلطې موندلو هڅه کېږي؛ نو دا به په دې سیمه کې غبرګون پیدا کوي او دا به بیا د نړېوالې سولې لپاره ویجاړوونکی هم وي. تر کومه ځایه چې زه د نیال فرګوسن له خوا اقتباس شوی یم، نو یقیناً دی زما د ژوندلیک لیکوال دی او دی به په هر هغه څه کې خپله وروستۍ پریکړه کوي، چې زه یې ورته وایم. خو بیا هم زما هغه خبره د چین د نظامي محاصرې په تړاو وه. دلته به زه دا هم ووایم، چې زموږ لپاره یوه ننګونه دا هم ده، چې څرنګه چینایي حقونه خوندي کړای شو، خو د چین لپاره هم یوه ننګونه دا ده، چې ځان څرنګه په یوه داسې نړۍ کې چې دی پکې هیژومنیک ځواک نه وي، عیار کړي. که زه د دې اجازه ترلاسه کړای شم، چې د مناظرې کومه طرحه زموږ پر وړاندې ده بیا یې تکرار کړم: د نړۍ پر وړاندې ستونزه دا نه ده چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پیړۍ وي، د نړۍ ستونزه دا ده چې د یوویشتمې پېړۍ پرمهال به چین بې له شکه ځواکمنېږي او آیا موږ به له چین سره یوځای کار وکړای شو او چین به هم له موږ سره یوځای د نړیوال جوړښت په جوړولو کې کار وکړي.

شاید دا به د نړۍ په تاریخ کې لومړی ځل وي، چې یو راپورته کېدونکی ځواک به په نړیوال سیستم کې دننه شي. سوله او پرمختګ به پیاوړی کړي. ما په خپل کتاب کې د خپلې تجربې په بنسټ دا ویلي؛ خو بیا هم د دې امکان تر ډېره هیله بښونکی نه دی. خو په بل اړخ کې به موږ هېڅ مهال هم د اټومي وسلو تکثیر، چاپېریال، فضاء او له نورو هغو ستونزو سره معامله ونه کړو، چې په نړیواله کچه پرې اجماع شته. زما په اند ستونزه دا نه ده، چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پېړۍ وي، خو آیا موږ به وکولای شو چې چین د یوویشتمې پېړۍ د یوې نوې جوړېدونکې نړیوالې مفکورې په توګه وپېژنو؟

**روډیارډ ګریفیتس:** په دې بحث کې یو شمېر دلچسپه دلایل وړاندې شول. دا چې په دغو دلایلو نور بحث هم وکړو؛ نو زه له دواړو لوریو غواړم، چې په چټکۍ سره د یو بل ویناوو ته غبرګون وښيي. په مشخصه توګه زه غواړم، تاسو هغه ټکي رابرسېره کړئ، چې تر ټولو ډېر ورسره ناهمغږي یاست. نیال فرګوسن، لکه څنګه مو چې منلې وه، زه غواړم لومړی له تاسو شروع وکړم.

**نیال فرګوسن:** زه له فرید زکریا پوښتنه لرم، که ستاسو استدلال سم وي او چین به د جاپان تاریخ تکراروي؛ نو که د جاپان کوچنی حجم او د چین د پرمختیا کمه کچه په نظر کې ونیسو او فکر وکړو، چې چین به هم د جاپان په څېر اقتصادي تاریخ تکرار کړي؛ نو دا خو بیا یقیني ده؛ چې یوویشتمه پېړۍ به چینایي پېړۍ وي؛ ځکه مخکې له دې چې د چین اقتصادي وده هم د جاپان په څېر کمه شي؛ نو چین به نه یوازې د نړیوالې جی ډي پي ډېری برخه ترلاسه کړي وي، بلکې د نړیوال ځواک ډېری برخه به یې هم خپله کړې وي. ځکه د جاپان برعکس، چین هېڅ کله هم خپل ملي حاکمیت د هر ډول نظامي ماتو له لارې نه دی بایللی. لکه څنګه چې جاپان په ۱۹۴۵ کال کې وبایلود. نو له همدې ځایه، په دواړو اقتصادي او جیوپولیټیکي برخو کې د چین له خوا د جاپاني تاریخ تکرار، له امکانه لرې ده.

**روډیارډ ګریفیتس:** فرید زکریا، تاسو ځواب ورکړئ!

**فرید زکریا:** د جاپان بېلګه موږ ته دا راښيي، چې هېڅ شی هم د تل لپاره په یوه مستقیمه کرښه نه ځي. هېوادونه په مشخصه توګه د اقتصادي مډرنیزم پر لور روانېږي او مومي چې دوی له ستونزو سره مخ دي. که تاسو وګورئ، په تېرو سلو کلونو کې یو شمېر هېوادونه چې في کس عاید یې له ۱۲۰۰۰ امریکایي ډالرو ډېر شوی وي، نو تاسو به داسې ډېر کم هېوادونه ومومئ. دا د خوښۍ ځای دی چې دا ډول هېوادونه یوازې پینځه دي.

داسې ډېر هېوادونه دي، چې هغوی په ابتدايي صنعتونو کې د رفارم د پروسې پر پېلولو او د اقتصاد له مخې د حکومت په لرې کولو کې ښې لاسته راوړنې لري. خو وروسته بیا ځرګندېږي، چې د ټولنې هر هغه کس چې مډرنایز کېږي باید دوی پورتنۍ طبقې ته پورته شي، لکه څنګه چې په سویلي کوریا، تایوان، هانګ کانګ او سنګاپور کې وشول. زه غواړم وښیم چې چین به له اقتصادي، ډیموګرافیکي، سیاسي او جیوپولیټیکي ستونزو سره دا وومي، چې اقتصادي پورته والی به تر یو څه حده پېچلی او سخت وي، لکه څنګه چې هینري کېسنجر هم ورته اشاره وکړه.

دغه ستونزي به چین اړ کړي، چې خپلو داخلي مسئلو ته پاملرنه وکړي او دا به چین پر یو هیژومنیک ځواک بدلېدا ته پرېنږدي. زه په دې کې هېڅ شک نه لرم چې چین به یو پیاوړی اقتصاد ولري او نه هم په دې کې شک لرم چې چین به پر نړیوال سټېج یو مهم لوبغاړی نه وي؛ خو پوښتنه دا ده چې آیا یوویشتمه پېړی به یوه چینایي پېړۍ وي او چین به پکې سلطه لرونکی وي؟ زه یو ځل بیا دې پوښتنې ته «نه» وایم.

**روډیارډ ګریفیتس:** ډیویډ! غواړم ستاسو نظر بېرته د جاپاني بېلګې په تړاو واخلم. دا زموږ د مناظرې تر ټولو فعاله برخه وه. د ناخالصو تولیداتو کلونه د اقتصاد او دولت ترمنځ نږدې همکاري او له دې زیاته په ۱۹۸۰ لسیزه کې دغه حس چې جاپان به هم د چینایي ټولنې په څېر شي، ولې د جاپان تېر تاریخ د چین راتلونکی نه شي کېدای؟

**ډیویډلي:** اجازه راکړئ، چې ستاسو پوښتنې ته ځواب درکړم او د فرید زکریا او ډاکټر کېسنجر ځینو ټکو ته په شریکه ځواب ووایم. ستاسو استدلال سم دی. دا ټکي چې تاسو بیان کړل، بې له دې به هم پیاوړي وای که چېرې دا د چین په تړاو دېرش کاله وړاندې ویل شوي وای؛ خو بیا هم له دې سره سره، چین وده کوي. چین په تېرو دېرشو کلونو کې د بدلون په حال کې دی. زما لیدلوری هم همدا دی، چې ننی چین به له خپلو ټولو ننګونو سره بیا هم د بدلون په حال کې وي. راځئ چین له جاپان سره پرتله کړو. زه فکر نه کوم، جاپان چې د ۱۹۹۰ لسیزې په پېل کې د سقوط پر لوري ولاړ، هلته دې داسې کوم اساسي بدلون رامنځته شوی وي؛ خو په چین کې موږ د اساسي بدلونونو شاهدان یو. دغه راز جاپان هم له چینه زده کړه کوله. زه دا استدلال نه کوم چې جاپان به په نړۍ کې یوازینی ابتدایي کلتور درلودونکی و، چې له چین سره تړاو لري. د فرید زکریا د اقتصادي ودې د ځینو ټکو په تړاو له ده سره په بشپړه توګه همغږی یم، د چین په څېر یو لوی اقتصاد به هېڅ مهال هم دوه عددي جي ډي پي وده بیا ونه لري؛ دا به راکمېږي؛ خو کله چې د امریکا متحده ایالات د یو نړیوال ځواک په توګه راپورته کېده؛ نو هغه د چین د اوسنۍ ودې په پرتله وده نه درلودله. مخکې له دې چې د نړۍ برلاسی ځواک شي، د امریکا وده په انتهایي زیاته کچه راکمه شوه؛ خو بیا هم اقتصاد یې په مسلسله توګه وده کوله. په اوسني چین کې زه انرژي وینم. زه بدلونونه وینم. په پای کې غواړم د ډاکټر کېسنجر یوې نقطې ته اشاره وکړم، دی په چین کې وروستېو اتلسو پېړیو ته اشاره کوي. زه په بشپړه توګه له هغه سره همغږی یم؛ خو دلته یو توپیر شته. په اوسني چین کې موږ په ډېره لوړه کچه خپل ماشومان بهر ته د زده کړو لپاره لېږو. تاسو فکر وکړئ، چې د ټورنټو د محصلینو شپږ چنده یوازې چینایي محصلین په امریکا او کاناډا کې زده کړې کوي. دوی د بدلون منابع دي. دغه ماشومان چې زده کړې کوي؛ نو د چین عروج به له امریکا څخه توپیر ولري. زه دا فکر هم کوم چې دا به د چاپان په څېر له ورته ستونزو سره مخ نه شي.

**روډیارډ ګریفیتس:** ډاکټر کېسنجر! آیا تاسو هم غواړئ په دې اړه کوم نظر ورکړئ؟

**هینري کېسنجر:** دا چې چین د بدلون په حال کې دی، په دې کې هېڅ شک نشته. که یو څوک د ۱۹۷۱ چین له اوسني چین سره پرتله کړي، نو وبه مومي چې په فزیکي، ډیموګرافیکي (د یو ماشوم تګلاره) په توګه اساسي بدلونونه رامنځته شوي دي. دا د یو ماشوم تګلارې په چین کې څه ناڅه ارزښتونو ته هم بدلون ورکړ.

په راتلونکو دېرشو کلونو کې یوازې دوه ډوله خلک چې په تقاعدي سن کې دي هغوی به کار کوي. په ۲۰۰۵ کال کې دا ۹.۲ خلک وو، چې هغوی د تقاعد شوي سن خلکو ساتنه کولای شوه؛ نو دا به یو شمېر بېلابېل چلندونه هم وزېږوي؛ خو دغه بدلون باید څوک له نړیوال نفوس سره مغشوش نه کړي. چین به د ښاري پراختیا، ډیموګرافیکي ننګونو سره مخ وي، او له نړیوال سیستم سره د عیارېدو په موخه به چین یو مستقل مشارکت کوونکی وي، بې له دې چې دی دې د نړۍ یو محور وي، چې دا بیا په تاریخي توګه هم پر چین ډېر پلي کېږي. دا چې دي؛ د حل وړ ستونزې نه دي. خو دا باید د لویدیځ د امپریالیزم له مفکورې سره مقایسه نه شي. په تاریخي توګه د چین نړیوال رول د درناوي په ترلاسه کولو متکي/منحصر دی. دوی په کلتوري لحاظ هم هېڅ مهال د یو نړیوال رول لپاره مبارزه نه ده کړې. زه فکر کوم چې د چین لپاره اړینه ده، چې پر لوېدیځ د برلاسۍ پر ځای، له لوېدیځ سره همکاري وکړي؛ تر هغې چې خپل چاپېریال او داخلي وضعیت مهار وي.

**روډیارډ ګریفیتس:** فرید زکریا صاحب آیا تاسو هم د هینري کېسنجر له دې استدلال سره څه اضافه کول غواړئ؟

**فرید زکریا:** زه یوازې غواړم له نیال فرګوسن څخه یوه پوښتنه وکړم. کاش چې ما د نیال فرګوسن ټول ۴۶ کتابونه لوستي وای، او ما د هغه په دغو کتابونو کې دا ډول اقتباسات موندلي وای، چې له اوسني دریځ سره یې په ټکر کې وای؛ خو بیا هم زه له هغه یوه ډېره ساده پوښتنه کوم. نیال د جیوپولیټیکس یو ښه زده کوونکی دی. او زه حېران دې ته یم چې دی څنګه دې پایلې ته رسېدلی دی، چې چین د الوت پر مهال دی. که څه هم په دې کې شک نشته خو بیا هم اصلي ستونزه دا ده، چې چین په یوې جیوپولیټیکي تشه کې الوت نه کوي، که تاسو وروستي یو کال ته ځیر شئ؛ نو چین یو ښه کال درلود. له مالي بحرانه په بریالیتوب راووت او اوسمهال پر ځان ډېر باوري دی. که اوس د چین چلند ته ځیر کېږو. په کوپنهاګ کې چین، امریکا او ولسمشر یې وشرماوه، د روغې جوړې له کولو منکر شو. چین جاپان هم پارولی و. د سینکاکو د ټاپو ګانو په قضیه کې چین جاپان هم پارولی وو. کله چې شمالي کوریا د سویلي کوریا کیښتۍ ډوبه کړه او سویلي کوریا له چینه وغوښتل چې د شمالي کوریا دغه کړنه وغندي؛ نو چین انکار وکړ. ویتنامیان او فلپینیان هم چین ته په غوسه دي، څکه چین د چین په سویل سمندرګي کې خپل ملي حاکمیت په زوره پلي کوي. دا یوازې د یو کال کیسه ده. او دا نو بیا یو داسې مهال دی چې چین لا د نړۍ برلاسی زبرځواک نه دی. آیا تاسو فکر کوئ، چې دا ټول هېوادونه به د چینایانو برلاسي ومني؟ ایا ممکنه ده، چې موږ له هندیانو، ویتنامیانو، سویلي کوریایانو، جاپانیانو او له اندونېزیا یو احساساتي غبرګون ونه وینو؟ په دې دومره چټکتیا چې چین به پر نړۍ سلطه ومومي تر ډېره سمه نه برېښي.

**نیال فرګوسن:** مننه فرید زکریا ستاسو له پوښتنې څخه. ما په دې وروستیو کې ستاسو په یوه لیکنه کې چې په ټایمز مجله کې خپره شوې موندلې دي، چې تاسو له اقتصاد سره سرسري برخورد کوئ. دا ماته یو فرصت راکوي، چې تاسو له دې ستونزې وباسم. د مالي بحران پرمهال د چین اقتصادي وده د نړۍ په اقتصاد کې د چین رول په اساسي توګه بدل کړی دی. تر مالي بحران پورې، چین مخ پر راپورته کېدونکو مارکېټونو کې له نورو سره رقابت درلود. لکه په امریکا او کاناډا کې چین د ارزانه توکو صادروونکی وو.

په دغو مارکېټونو کې چین خپلو رقیبانو ته ماتې ورکړه. دا تر ډېره د چینايي نرخونو له کبله وو. بیا مالي بحران، پرمختللو اقتصادونو ته ضربه ورکړه او د هغوی اقتصاد يې کساد او یا هم ډیپرېشن ته ورننږدې کړ. څه چل وشو؟ چین په نړۍ کې پر یوې بریالۍ انګیزې واوښت او په دا ډول د چین رول تغیر وکړ. دا نور له راپورته کېدونکو مارکېټونو سره سیالي نه لري، بلکې دا يې د مشکل پر حل کوونکي بدل کړی دی. دغو مارکېټونو هم وموندله، چې تر ټولو ډېر بدلېدونکی مارکېټ چې دوی به پکې خپل توکي وپلوري چین دی یا د بخت د بېرته راګرځېدلو له کبله د نړۍ تجارتي اسلوب تغیر وموند او د هند په ګډون د چین اسیايي ګاونډیانو وموندله، چې نوی چین د دوی سیال نه دی خو نوی چین د دوی د توکو لپاره یو مارکېټ دی نه یو رقیب.

دغه اسلوب به همداسې دوام وکړي؛ ځکه د چین د وروستي پینځه کلن پلان موخه دا ده، چې د چین پاملرنه له صادراتو داخلي تقاضا او مصرف پر لور واړوي. همدا لامل دی، چې دا نظریه چې ټول آسيايي هېوادونه به د چین پرضد ودرېږي تر ډېره یو خیال دی. په اقتصادي توګه دغه هېوادونه پر چین تر ټولو ډېر متکي دي. که سیول ته ولاړ شي او هلته له خلکو سره خبرې وکړئ او یا له موکیش امباني سره خبرې وکړئ، چې د هند تر ټولو لوی شتمن دی؛ نو هغه به هم تاسو ته ووايي، چې د اسيايي هېوادونو لپاره د چین مارکېټ څومره ستر دی. همدا زما لپاره یو مناسب دلیل دی، چې ولې به یوویشتمه پېړۍ یوه چینايي پېړۍ نه وي. ځکه ټول دغه اسيايي مارکېټونه به پر چین تکیه وي.

**روډيارډ ګریفیتس:** ډیویډ زه اوس تاسو ته راګرځم او بیا به فرید زکریا او هینري کېسنجر ته. او وروسته به سالون ته د یو شمېر پوښتنو لپاره وروګرځو.

**ډیویډلي:** فرید په مطلقه توګه صحیح دی، چې کله دی په تېر یو کال کې د چین او د ګاونډیانو ترمنځ د کړکېچونو په تړاو تبصره کوي؛ خو موږ باید له دې هم ژور ولاړ شو. موږ باید سطحي چلند ونه کړو. لکه موږ چې يې پر تلویزونونو وینو. ښښنه غواړم که څه هم تلویزون اړین/ارزښتناک دی، په تېره بیا د فرید زکریا پروګرام چې زه يې ډېر خوښوم؛ خو موږ باید له سطحي نظر ډېر ژور ولاړ شو. څوک تعرض کوونکی و؟ کومې ډلې پاروونکې وې؟ هېڅ کله هم دا چین نه وو.

د بېلګې په توګه تاسو د سینکاکو ټاپوګانو قضیه راواخلئ او د جاپان ښکېلتیا. د جاپان حکومت یو شمېر چینايي ملاحان ونیول او پر دوی يې خپل داخلي قانون پلي کړ. چینايي لوري هڅه کوله چې له دوی سره سوله‌ییز چلن وکړي. دغه راز تاسو د کوپنهاګ خبرې اترې هم راواخلئ. چین هلته کوښښ کاوه، چې له نورو هېوادونو سره یو هدفمند توافق ته ورسېږي. چینايي لوری تر ډېره تړلی و؛ ځکه د چین حکومت چې د هر څه ژمنه کوي، د چین حکومت باید په راتلونکي کې پرې وفا وکړي. موږ نه شو کولای ووایو، چې زموږ پارلمان بدل شو او یا هم نوي پارلمان دغه موافقې باطله کړې. له امریکا سره د خبرو اترو په برخه کې دا د امریکا د نوي ولسمشر بارک اوباما له خوا یو نمایش و. ولسمشر اوباما د خبرو اترو کوښښ کاوه؛ خو دغه موافقه د کانګرس له خوا رد شوه. په بل اړخ کې دا ډول چلند په چین کې کار نه ورکوي. زه سپارښتنه کوم، تاسو باید نورو ثبوتونو او علامو ته وګورئ. د مالي بحران په درېیوو کلونو کې چین کوښښ کاوه، چې نړیوال مالي سیستم باثباته کړي. د رینمینلي (د چین کرنسي) د نورو پیسو برعکس د امریکايي ډالر په مقابل کې خپل ارزښت کم نه کړ.

همدا راز چین د مالي بحران پرمهال پر امریکا باندېونه هم ونه پلورل. چین یو زغم لرونکی او اوږدمهال پانګه اچوونکی دی، چې له اوسنۍ اروپا او د امریکا له اوسني حکومته ملاتړ کوي. زه هیله لرم چې موږ باید لوی انځور وګورو.

**فرید زکریا:** نیال فرګوسن یو غوره اقتصادي مورخ دی. دی د آسیا له اقتصاده سم درک لري. خو زه یوې نکتې ته اشاره کوم، چې د ټول تاریخ په جریان کې خلک په جګړو کې ښکېل شوي دي؛ ان که دوی په اقتصادي توګه پر یو بل تړل شوي هم وو؛ خو بیا هم دوی له یو بل سره جیوپولیټیکي رقابتونه درلودل. لومړی ستر مورخ توسیډېډیس د پنوپلوسین جګړو په تړاو خبرې کوي. د دې جګړې په تړاو د توسیډېډیس لومړنی توضیح دا وه، چې دا جګړه د افتخار او درناوي له کبله رامنځته شوه. دې جګړې له اقتصاد سره هېڅ سرو کار نه درلود. تاسو د لومړۍ نړیوالې جګړې پرمهال اروپا ته ځیر شئ، دا یوه داسې لویه وچه وه، چې په اقتصادي لحاظ پر یو بل متکي وه. اوسمهال هم د نړۍ یو شمېر هېوادونو په ورته ډول له یو بل سره تړل شوي دي. د انګلستان او جرمني ترمنځ د اقتصادي تړلتیا کچه په یوه داسې مهال کې وه، چې دا د دواړو لپاره لېونتوب وو، څو له یو بل سره په جګړه کې دننه شي؛ خو بیا هم دوی په جګړه کې دننه شول. د یو ځوان او مشهور مورخ کتاب دی، پر همدې حقیقت ولاړ دی چې شاید انګلستان به په جګړه کې نه وای ښکېل شوی؛ ځکه دا د هغوی لپاره یو شان لېونتوب ګڼل کېده. د کتاب نوم The pity of Warو. آخ تاسو صبر وکړئ د دې کتاب لیکوال خو پخپله نیال فرګوسن و.

**نیال فرګوسن:** نو بلاخره تاسو زما یو کتاب لوستی دی.

**روډیارډ ګریفیتس:** وړاندې له دې چې موږ د مناظرې دا برخه پای ته ورسوو. زه ډاکټر هینري کېسنجر ته فرصت ورکوم، چې خپلې وروستۍ خبرې وکړي.

**هینري کېسنجر:** زما په آند موږ د نیال فرګوسن پرضد درې پر یو یو. زموږ چینایي ملګری دا ویل غواړي، چې چین تر ډېره رنج وړی دی او چین د اروپایي استثماري پېړۍ تر ډېره پارولی دی. او دا چې چین نه غواړي پر نړۍ سلطه ومومي. تر کومه ځایه چې زه پرې پوهېږم دی وايي، کله چې لویدیځ غواړي د چاپیریال یا هم د مالي نظام بحث وکړي؛ نو زموږ تمایل باید دا وي، چې موږ چین هم په دغو خبرو اترو کې ورګډ کړو. چین باید په یوه داسې سېستم کې چې دا یې د جوړولو پرمهال ګډونوال نه وو هم ګډونوال واوسېږي. نو اصلي ستونزه دا ده چې یوځای یو داسې نړیوال سېستم جوړ شي، پرته له دې چې چین پر دغه سېستم سلطه ومومي. دا هغه څه دي، چې موږ هم پرې په دې مناظره کې بحث کوو. که چیرې زه د دې چینایي ملګري مشاهده په سمه توګه درک کړم، دی هم نه غواړي چې چین به نړۍ تر خپلې سلطې لاندې راولي. دی وايي چې چین تر ډېره د پیشرفت پر لوري روان دی. چین ته باید غوږ کېښودل شي. امریکا باید دوی ته وروستي توکي ور نه کړي. باید له دوی څخه په داسې قضایاوو کې لکه د چاپیریالي بدلون په تړاو نظر واخیستل شي. موږ ټول له ده سره همغږي یو؛ نو په دې لحاظ ډېوېډ که تاسو غواړئ خپله څوکۍ له هغه ځایه زموږ خوا راوړئ نو موږ به مو هرکلی وکړو.

**روډیارډ ګریفیتس:** مورِ اوس د پوښتنو او ځوابونو برخې ته ځو. دغه د پوښتنو او ځوابونو برخه په یو شمېر فرعي برخو ویشل شوې ده. دا برخې اقتصادي، سیاسي، کلتوري او جیوپولیټیکي دي. اوس مورِ د اقتصادي برخې په تړاو پوښتنې پېلوو. زه غواړم چې لیدونکي پوښتنو ته راوبولم. په دې برخه کې پوښتنې کوونکو یو شمېر تر ټولو زیات پلورل شوي کتابونه لیکلي. آغلې ډمبیزا مومیو!

**ډمبیزا مومیو:** زه له ښاغلي ډیویډلي او نیال فرګوسن پوښتنه لرم. تر اوسه د چین د پرمختیایي ستراتیژۍ کیلي د هغوی نرم ځواک وو. د هغوی د پراخو وسایلو راټولونه او طبیعي وسایلو په تېره بیا ځمکې، اوبه، انرژۍ او کانونو ته لاسرسی درلود. په ډېرى عامه توکو لکه په نړیواله کچه د ملي امنیت په تړاو بیمه ګر وو. په بل مفهموم؛ دا ځومره ممکنه ده، چې چین د خپل نرم ځواک له استراتېژۍ څخه پر کلک ځواک تکیه وکړي؟ له همدې ځایه به دا د افریقا په شرایطو کې نظامي یا کالونیالیستي ستراتېژیو په څېر د وسایلو په راټولونه کې نظامي او کالونیاستي تګلارې خپلې کړي؟

**نیال فرګوسن:** دا ډېره غوره ده چې تاسو هم له ځان سره په دې بحث کې لرو. زه بې میله یم، چې د افریقا په تړاو ستاسو پوښتنې ځواب کړم؛ خو بیا هم ما په تېر کال کې زامبیا، سینیګال او نمیبیا ته سفرونه کړي او داسې برېښي، چې په افریقا کې یو څه مهم روان دي. چین یو نوی بشپړ پرمختیایي پروګرام روان کړی دی، چې دا بیا د مرستو له پروګرام سره په راډیکاله توګه توپیر ولري. تاسو په خپل کتاب کې په دې تړاو په ټینګار سره ویلي، چې د لویدیځ د هڅو باوجود د مرستو پروګرامونه ناکام شوي دي. د چین دغه پرمختیایي استراتېژۍ پر شخصي ګټو ولاړه ده. چین طبیعي وسایلو ته رشد ورکوي په تېره بیا د زامبیا د مېسو په کمربند کې ځکه چین په جدي توګه د خپلو نویو ښارونو لپاره مېسو ته اړتیا لري؛ خو په افریقا کې د چین د دغې استراتېژۍ تاثیرات ډېر زیات بد نه دي. زما په اند دا تر ډېره د نورو غلط فهمي ده. مورِ به د نولسمې پېړۍ کالونیالېزم ته وروګرځوو. زما په ذهن کې دا هغه څه نه و، چې ما په زامبیا کې ولیدل. کالونیالېزم ته ورګرځېدنه د چینایانو چلند نه دی او دا هغه څه دي چې تاسو پرې په خپله په خپل کتاب کې استدلال کړی دی. چینایان پانګونه کوي. هغوی هڅه کوي، چې پیسې وګټي. هغوی د افریقا اقتصادي پرمختیا پر مخ بوځي بې له دې چې د هغوی اقتصاد پر دوی تکیه شي. آیا دا به په آخره کې پر یو کړکېچ بدلون ومومي لکه څنګه یې چې تاسو لاروښونه کوئ. د افریقا لپاره یو ستونزمن حالت دی لکه په نولسمه پېړۍ کې چې وو. دا ممکنه ده؛ خو زه یې اوسمهال کومه نښه نه وینم. یوازې یو هېواد چې په افریقا کې په بې سیاله روان دی؛ هغه چین دی.

**ډیویډلي:** زه هم غواړم چې د نیال فرګوسن پر دغو سترو نښو خپل درې عام نظرونه ور اضافه کړم. زما لومړۍ خبره له نېت سره تړاو لري. چین دا نېت نه لري، چې د وروستېو پېړیو کالونیالېزم تکرار کړي. د دې برعکس چین له افریقایي هېوادونو سره د همکارۍ په تړاو هڅې کوي. تاسو د افریقایي اتحادیې غونډه له نظره تېره کړئ، چې درې کلونه وړاندې ترسره شوه. ډېرى افریقایي رهبران او کاروباري خلک په افریقا کې چینایي پانګونو ته لېواله دي. زما دویمه خبره له وړتیاوو/ظرفیت سره تړلې ده. تاسو چین په رښتینې توګه درک کړئ. تاسو باید د چین په تړاو واقعبین واوسئ. مورِ اوس هم د یو بېوزلي اقتصاد درلودونکي یو.

ځکه زموږ فی کس عاید تقریباً ۴۰۰۰ امریکایي ډالر دی؛ نو زموږ د اقتصادي ودې لپاره دا یو اوږد سفر دی. ضمناً دا ښيي، چې چین اوسمهال هېڅ ظرفیت نه لري، چې ټول افریقایي هېوادونه خپله مستعمره وګرځوي ان که چین یې وغواړي هم.

زما درېیمه خبره په عمومي توګه د چین په تړاو ده. د چین دننه سترې هڅې کېږي، چې د نویو ټکنالوژیو له استعمال سره وسایل خوندي شي. نوې ټکنالوژۍ د انرژۍ کیفیت ته وده ورکوي. او نوې تګلارې باید خوندیتوب وهڅوي؛ نو زما په فکر دا روښانه ده، چې چین د مډرنایزیشن یو نوی سبک جوړول غواړي. دا به د نړۍ د بېوزلو ملتونو ته هیله مندي ورکړي.

**روډیارډ ګریفیتس:** ښاغلی هینري کېسنجر زه غواړم له تاسو وپوښتم. آیا دا د هغو هېوادونو لپاره چې تازه تازه نړېوال ځواک شي په دې دام کې را ایسارېږي؟ تاسو څه فکر کوئ. چین هم له یو داسې ګواښ سره مخ دی، چې له خپل ظرفیت زیات له دغو وسایلو دفاع وکړي؟

**هینري کېسنجر:** دا چې چین د خپلو صنعتونو لپاره ډېر وسایل غواړي. دا یوه طبیعي خبره ده؛ خو دا چې دی بیا پر دې باوري وي، چې دغو وسایلو ته د لاسرسي په موخه باید په نظامي توګه هم سلطه لرونکی واوسي؟ دا نو بیا یوه بېله پرېکړه ده. که تاسو له لومړۍ نړېوالې جګړې دمخه جرمني ته وګورئ، نړۍ شاید د جرمني له دې نظر سره ګذاره کړې وای، چې جرمني دې د ځمکې تر ټولو لوی پوځ ولري؛ خو کله چې جرمني هڅه وکړه د نړۍ ستر بحري ځواک هم چمتو کړي؛ نو دې بیا د انګلستان اوږدمهاله شتون له ګواښ سره مخ کړ همدا لامل وو، چې هغه مهال دوو ننګونو شتون درلود.

موږ باید په دې پوه شو، چې چین به ځواکمنېږي او موږ نه شو کولای، چې د چین د پیاوړتیا هرې نښې ته غبرګون وښیوو؛ خو چین هم باید خپل یو شمېر محدودیتونه وپېژني، چې په بشپړه نړۍ کې د خپلو ګټو د حقانیت په تړاو ګامونه پورته کوي. دا دول نظرونه باید یوځای واوسېږي. یوازې د یو هېواد له خوا نه شي ترسره کېدای چین باید هر څه په همکارۍ ترسره کړي.

**فرید زکریا:** زه غواړم یوازې یوه تبصره وکړم. زه فکر کوم چې ډیویډلي وویل په افریقا کې د چین پانګونې ولسي/د خلکو له خوا استقبال شوي دي/عامه خوښې دي. فکر کوم له دې پرته به دا ډېره صحیح وي، چې موږ ووایو په افریقا کې د چین پانګونې د دکتاتورانو خوښې دي. یو کال وړاندې زه په کینیا کې وم او ما له ځینو پارلماني غړو وپوښتل د دوی د ډیموکراسۍ او انساني حقونو په تړاو اساسي اندېښنې څه دي؟ هغوی وویل چې د دوی یوازینۍ او تر ټولو لویه اندېښنه دا ده، چې چین له افریقایي دکتاتورانو سره معامله کوي او هېڅ ډول د پوښتنې حق هم نه لري. نه هم د انساني حقونو په تړاو کومه حساب ورکوونه شته که څه هم دا به مبالغه وي؛ خو یقیناً همداسې یو څه شته، چې دوی په اوږدمهاله جیوپولیټیکي اړخ کې اندېښمنوي.
موږ فکر کاوه، چې د منځني ختیځ له ډېرو هېوادونو سره باثباته اړیکې ولرو؛ خو وروسته دا معلومه شوه، چې موږ د منځني ختیځ له ټولو دکتاتورانو سره ډېرې باثباته اړیکې لرو.

**نیال فرګوسن:** یوه دقیقه صبر وکړئ فرید زکریا صاحب، زه له اقتصاد پوه ډېر یو مورخ یم. تاسو ما تصحیح کړئ؛ آیا تاسو دا ویل غواړئ چې د لویدیځو څواکونو د ختیځو له دکتاتورانو سره هېڅ مهال معامله نه ده کړې. آیا دا یوازې د چین په تړاو یوه نوې خبره ده؟ آیا دا د چین په پالیسۍ کې کومه نوې خبره ده؟ زه هم افریقا ته تللی وم او ما هم هلته د مېسو د کمربند په کانونو کې له یو شمېر کانکېندونکو سره خبرې وکړې. دوی د ملي کانونو د سیستم له سقوط وروسته کارونه نه درلودل. اوس د چینایانو له خوا د دغو کانونو د پرانیستو له کبله یې بېرته کارونه موندلي دي.
چینایانو نه یوازې دا چې دا کانونه بیا پرانیستل بلکې پراخ یې هم کړل. دا تر ډېره مناسبه نه ده، چې ووایو یوازې چین له افریقایي دکتاتورانو سره معاملې کوي. چین له افریقایي دیموکراسۍ سره هم معاملې کوي. دا په افریقا کې له هر هغه چا سره معامله کوي، چې په لاس ورځې. په تېره بیا له هغو حکومتونو سره هم معاملې کوي، چې د لویدیځو حکومتونو له یو شمېر کلونو راهیسې یوازې پرېښي دي.

**فرید زکریا:** زه په دې قضیه کې د لویدیځ دفاع نه کوم. زه یوازې دا څرګندوم چې چین چې څه هم کوي هغه د رهبرۍ له طبقې سره کوي. او دا چې اوسنۍ رهبري د بشپړو افریقایي ولسونو د هیلو استازیتوب نه شي کولای.

**نیال فرګوسن:** آیا تاسو وایئ، چې افریقا به هغه مهال غوره شي، چې چین هلته پانګونه ونه کړي؟

**فرید زکریا:** نه! زه دا خبره نه کوم.

**نیال فرګوسن:** آیا د افریقا وضعیت به ښه وای که چیرې چین د دوی ستر مشارکت کوونکی نه وای؟ زما په اند دا یو ډول منافقانه استدلال دی او دا به زما لپاره ډېر ځورونکی وای که چېرې زه یو چینایی وای!

**فرید زکریا:** تاسو یې په څرګنده توګه ځورونکې مومئ ان که تاسو چینایی هم نه یاستئ.

**روډیارډ ګریفیتس:** د اقتصاد په برخه کې غواړم د وروستۍ پېړۍ د یو ډېر اساسي او کامیاب توکي چې آیفون دی په تړاو پوښتنه وکړم. دغه تیلیفون چې په چین کې جوړېږي، برعکس په کلیفورنیا کې ډیزاین شوی دی. هغه سافټ ویر چې دا توکی چلوي د سټیف جابز او د هغه د ټیم له خوا په آپل کمپنۍ کې جوړ شوی وو. هغه «واو» کیفیت چې دغه ابزار خلک تقاضا ته هڅوي، ما هم هڅوي، چې له ډیویډلي او نیال فرګوسن وپوښتم. آیا چین به هم لکه اپل یا ګوګل او کاناډایي ربم په څېر نوښت وکولای شي. ځکه که دوی غواړي چې یوویشتمه پېړۍ په خپله سلطه کې واخلي؛ نو دوی هم باید دا ډول نوښتونه وکړي؟

**ډیویډ لي:** زما ځواب هو دی! چینایان یې هم کولای شي. په یاد ولرئ هېڅ بېوزله هېواد په یوه شپه کې نوښت نه شي کولای. دا د زده کړې یوه اوږده پروسه ده. لکه مخکې مې چې وویل، دا له خلاصېدنې سره تړاو لري. له لویدیځ څخه دا زده کول چې هلته څه کار کوي او بیا یې په چین کې عملي کول. اروپا ته په سلګونه زره محصلین لېږل، ځو دوی هلته زده کړې ترلاسه کړي او بیا په تدریجي توګه د نوښت پر لور ولاړ شي. نږدې دېرش کاله وړاندې چین نوښت نه شو کولای؛ خو اوسمهال موږ چټک ربل ګاډي لرو. په بل اړخ کې د امریکا متحده ایالات اوس هم په دې برخه کې هڅې او زیارونه وباسي. نن موږ موټرونه لرو، چې نه یوازې دا چې ارزانه دي، بلکې د جنرل موټر له خوا د جوړو شویو موټرونو په پرتله ډېر باکیفیته/موثره هم دي. دا په یاد ولرئ، چې د جنرل موټر ډېری ګټه اوسمهال هم له چینه راځي. که دا د چینایانو له برکته نه وای؛ نو دوی به د امریکایي حکومت ډېری پیسې د نجات په موخه مصرف کړې وې. دا یو ډېر ساده حقیقت دی.

زه باوري یم چې چین به په اوږدمهال کې نوښت وکړي. دا یو تدریجي پروسه ده؛ خو دا چې چین به په راتلونکي کې آیفون ولري یا نه، دا نو بېله قضیه ده. دا د نوښت یوه بېله کچه ده. د آیفون او آی پاډ په څېر توکي یوازې په امریکا کې جوړېدای شي؛ خو په بل اړخ کې چین بېلې اقتصادي او ټولنیزې ادارې لري او دا به د نوښتونو د عملي چلندونو په وروستیو مرحلو کې وي. تاسو اړتیا نه لرئ، چې د نوښتونو د عملي روښونو په وروستۍ مرحله کې واوسېږئ ځو تاسو په نړۍ کې د درناوي وړ او مهم هېواد په توګه وپېژندل شئ.

**نیال فرګوسن:** تاسو پوهېږئ، چې ما د آیفون په تړاو دا ډول کیسه څو ځله اورېدلې ده. دا د لویدیځ د ځان خوښۍ نښه ده. داسې ده، چې موږ به تل د غوره نظریاتو درلودونکي واوسېږو او نور به تل زموږ جوړې کړې پرزې سره یوځای کوي. دغه مفکوره اوس لس کلنه، تاریخ تېره ده. موږ دلته د راتلونکي په تړاو خبرې نه کوو، چین به په راتلونکو څو کلونو کې له جرمني په نړیوالو پېژندل شوو پېټنټ په برخه کې مخکې شي. دا د چین د تعلیمي ادارو د سترو هڅو له کبله ده. لکه په کوم ځای کې چې ډېویډ کار کوي؛ هلته هغوی د څېړنې او پرمختیا مقابله زیاتوي او دکتورا لرونکي کسان تولیدوي او زه په مطبوعاتي مطالعاتو کې د دکتورا په تړاو نه غږېږم، بلکې په انجنیرۍ او فزیک کې له دکتورا لرونکو کسانو غږېږم.

**روډیارډ ګریفیتس:** فرید زکریا! زه غواړم په دې تړاو ستاسو نظر هم واخلم. آیا چین د پرانیستې او آزادۍ ټولنې پرته نوښت کولای شي؟

**فرید زکریا:** لومړی غواړم دا ووایم ،چې زه له نیال فرګوسن او ډیویډلي سره په دې قضیه کې همغږی یم. دا یوه غلطي ده که پرې باور وکړو، چې یو ډول جنیټیکي خصوصیت چین نوښت ته نه پرېږدي. یقیناً هغوی به هم نوښت وکړي، هغوی به هم یو شمېر د لېوالتیا وړ توکي جوړ کړي؛ خو کومه نکته چې زه او هینري کېسنجر په متواتر ډول بیانوو، هغه دا ده چې هغوی به هم نوښتونه وکړي؛ خو موږ به هم نوښتونه وکړو. په دا ډول به دا د نوښتونو څو تعدده نړۍ وي. همدا لامل دی چې ما پر خپل کتاب د چینایي یا هندي نړۍ کتاب نوم کېښود. دا به بې له شکه «له امریکا وروسته نړۍ» وي، چې په دې کې به ډېر زیات نوښتونه کېږي.

خو زه یو بل فکر هم لرم. که تاسو آپل ته وګورئ او فکر وکړئ، چې نوښت څه ته وايي. په عمومي توګه آپل په اوسنۍ نړۍ کې د تر ټولو نوښتګري کمپنۍ په توګه پېژندل کېږي. دا په ټولو لېستونو کې لومړۍ ځای لري. آپل په یوه لسیزه کې په پرمختیا او ځېړنه کې هومره مصرفوي لکه مایکروسافټ یې چې په یو کال کې مصرفوي. که تاسو پر ځېړنې او پرمختیا د مصرف شوو لګښتونو لېست وګورئ نو آپل پکې په ۸۵ نمبر دی. آپل په دې تړاو له کمپیوټري کمپنیو څخه پنځوس سلنه کم مصرفوي. د آپل نوښتونه په دا ډول طرحه شوي. لکه بشر چې د ټکنالوژۍ استعمال په ذهن کې کوي. دا هغه څه دي، چې تاسو به یې زده کړئ که تاسو په رسنیزو مطالعاتو کې دکتورا ترلاسه کړې وي. دا هغه څه دي، چې په ټول تاریخ کې رښتیا ثابت شوي دي.

د جامو ګنډلو د ماشین له اختراع سره، د سېنګرا کمپنۍستره وړتیا دا نه وه، چې دا ماشین یې جوړ کړ، بلکې د دوی وړتیا دا وه، چې دوی دغه ماشین پر مېرمنو پر قسطونو وپلوره. له دې وړاندې هېچا هم پر مېرمنو په دا طریقه ماشین نه و پلورلی. د ګوګل ستر نوښت به هم شاید په حقیقت کې د دوی د پلټنې انجن نه وي، بلکې دا به شاید د دوی د اعلانکړنې پروګرام وي، چې د پلټنې انجن سره یوځای ډیزاین شوی دی؛ نو د «نوښت څه دی؟» یوه برخه د ساینس او مصرف کوونکي چلن یوه عجیبه ترکیب دی. زما په اند هغه ستر نوښت چې کاپیټالېزم یې پر لاره واچوو، هغه د حسابونو ساتنه وه. دا کوم ساینسي علم نه و. یقیناً چین به هم په خپله طریقه نوښت وکړي؛ خو د امریکا د ایکو سیستم په تړاو یو داسې څه هرومرو شته چې نن موږ هر څه پېژنو، هغه دوی جوړ کړي دي.

دغه راز زما په اند امریکایان دا وړتیا لري، چې پورتني پاړکي وپوښتي. دا بیا د نوښت په تړاو یوه مطلقه کیلي ده. ما له ډېرو خلکو اوریدلي، چې د امریکایي زده کړې او ماشومانو لویولو پر طریقې خبرې کوي. زه هم له اسیایي پوهنیز سیستم څخه تېر شوی یم. دا یو ډېر بېزاره کوونکی سیستم دی. دا سیستم تر ډېره د سترو امتحانونو په تړاو پر حافظې ولاړ وي او کله چې تاسو امتحانونه ورکړئ؛ نو څه مو چې زده کړي وي، وروسته یې هېروئ. امریکایي سېستم له دې غوره دی. ځکه دا محصلین فکر کولو ته هڅوي. دا محلصینو ته د ستونزو د حلولو په تړاو لارښوونې کوي. دا محصلینو ته ښيي، چې په خپل ټول ژوند کې د زده کړې له بهیره پرې نه شي او دا هېڅوک هم پر ناکامېدو نه شرمنده کوي. په باکیفیته توګه ناکامي د نوښت یوه ډېره ځواکمنه برخه ده. چین به هم نوښت وکړي؛ خو زما په اند دا هغه څه دي، چې امریکا بیا په دې برخه کې بې سارې ده.

**روډیارډ ګریفیتس:** زه غواړم د پوښتنو-ځوابونو دویمې برخې ته ولاړ شم، چې دا برخه د سیاست او کلتور په تړاو ده. د دې برخې د پیلولو په تړاو زه له جېنېس انېسټین څخه چې د مونک مناظرو د نړیوالو چارو مکتب مشره ده، غواړم چې دغه برخه له خپلې پوښتنې سره پیل کړي.

**جېنېس انېسټين:** زما پوښتنه له ډیویډلي او فرید زکریا څخه ده. په دې وروستېو کې نړۍ په ډېره لېوالتیا سره ولیدل، چې یو شمېر ځوانانو د تونس او مصر په څلورلارو کې د سیلابونو په بڼه راووتل او د سیاسي حقونو تقاضا یې وکړه او ترڅنګ یې دا هم وغوښتل چې فاسد رهبران دې د واک له ګدۍ ښکته شي. اوسمهال د عربي نړۍ او چین مقایسه لرې ده؛ خو بیا هم چین یوه رسېدلې ټولنه ده. عربي نړۍ یوه ځوانه ټولنه ده. چین په سلهاوو میلیونه کاري فرصتونه زیږولي؛ خو عربي نړۍ بیا داسې نه دي کړې؛ خو چین هم د عربي نړۍ په څېر مخالف عقیده لرونکي خلک نه شي زغملی او بیا هم لکه د عربي نړۍ په څېر په چین کې هم ورځ تر بلې د عایداتو د وېش زیاتېدونکې نابرابري شته ده. زما پوښتنه دا ده، چې چین به څنګه د رهبرۍ له انتقالي پړاوه تېر شي، په چین کې به د سیاسي حقونو په تړاو زیاتېدونکې تقاضا رامنځته شي او څنګه به د چین رهبري له دې حالت سره چلن وکړي؟

**ډیویډلي:** مننه چې تاسو دا پوښتنه راپورته کړه. زه باوري وم، چې دا ډول پوښتنې به په دې مناظره کې رابرسېره کېږي. زه اړتیا نه لرم چې د عرب پسرلي بېلګه را په یاده کړای شي؛ ځکه مونږ له لومړۍ ورځې پوهېدو، چې دا ورځ هم راتلونکې ده. په چین کې خلک پوهېدل چې په عربي نړۍ کې به نوي غږونه واورېدل شي. هلته به د نظرونو د څرګندولو حق او په پرېکړو کې د سیاسي ګډونتیا تقاضا کېږي. په چین کې خلک له لومړۍ ورځې پوهېدل چې اقتصادي او اداري بدلون به له سیاسي او اقتصادي بدلون سره یوځای روان وي. زما په اند د چین په تړاو تر ټولو ستر سوء تفاهم دا دی، چې موږ سیاسي بدلون نه لرو؛ خو حقیقت دا دی، چې موږ یې لرو په تېره بیا زموږ د رهبرۍ ټاکنه. نن چې څرنګه زموږ رهبري ټاکل کېږي او چې څنګه عامه پرېکړې ترسره کېږي دا د پخوا په پرتله ډېرې بدلې شوې دي. په چین کې ځوانان خپل نظریات د انټرنېټ له لارې څرګندوي او په ډېرۍ بېلګو کې د هغوی غږونه اورېدل کېږي. ما پرېکړې د دوی د غږونو له تطابق سره بدلې شوې لیدلي دي. نو زه له تاسو ټولو غواړم چې چین ته ولاړ شئ، هلته له ځوانانو سره خبرې وکړئ، چینایي وېب سایټونو ته سر ور ښکاره کړئ، څو د رفارم له نوي مېتود څخه خبر شئ او له دې هم خبر شئ، چې خلک څرنګه خپل نظریات او ناخوښي په یو شمېر برخو کې څرګندوي. په یو شمېر لارو کې به تاسو دا هم ومومۍ چې څنګه پرېکړه کوونکي د خلکو او په تېره بیا د ځوانانو نظریات په پام کې ساتي.

**فرید زکریا:** زه به له ډیویډلي سره په دې تړاو پینځه کاله وړاندې همغږی وای. دا روښانه ده، چې هلته د یو حقیقي او سیاسي رفارم پر لور یو تدریجي او محدوده خوځښت روان دی؛ خو زما په اند په وروستېو پینځو کلونو کې اقتصادي رفارم او اقتصادي ودې د سیاسي رفارم ځای نیولی دی؛ خو تر اوسه د سیاسي رفارم په برخه کې ډېر څه نه دي شوي او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې په تېره بیا عربي پسرلي د چین لپاره ستونزمنه کړې، چې سیاسي کنټرول ټینګ کړي. هغه څه چې موږ په چین کې نه وینو هغه د پرانیستنې په تړاو تمایل دی. داسې هڅه چې پکې د یو شمېر سیاسي رفارمونو لړۍ اعلان شي په حقیقت کې د تمېدو پر لور روانه ده. که تاسو په چین کې په ګوګل کې د چمبېلي انقلاب په تړاو وپلټۍ؛ نو تاسو به له یوې خالي صفحې سره مخ شئ. ځکه هلته دا وېره شته چې دغه انقلاب به په چین کې رېښې پیدا کړي. که په مجموعي توګه تاسو انټرنېټ ته وګورئ؛ نو چین د یو شمېر مراجعو په اند څو میلیونه خلک د چین د انټرنېټ پر څارنې بوخت کړي؛ ان د موبایل میسجونه هم تر څارنې لاندې دي.

زه به تاسو ته په دې تړاو خپله شخصي تجربه بیان کړم. ما د خپل پروګرام لپاره د چین له لومړي وزیر وین جیاباو سره مرکه درلودله. دا مرکه ډېره زیاته ارزښتمنه وه، چې ما یې د ترسره کولو ویاړ ترلاسه کړ. د چین حکومت د مرکې په تړاو خبر خپور کړ؛ ځکه دا مرکه یې مهمه بلله. د چین لومړي وزیر وین جیاباو د چین په تړاو چې څرنګه به سیاسي او تدریجي تکامل ومومي یو شمېر پرځای او بې ضرره تبصرې وکړې؛ خو دغه مرکه د چین پر تلویزون خپره نه شوه او له چینایي وېپ پاڼو هم بېرته لرې کړای شوه. په غبرګون کې د یو شمېر چینایي ژورنالستانو یوې ډلې په دې تړاو چې دا مرکه سانسور شوې ده اعتراض وکړ؛ خو د دوی دغه اعتراض لیک هم د دوی له وېب پاڼې څخه لرې کړای شو. دا زما لپاره د سیاسي رفارم کومه بېلګه نه ده. دا یوه داسې اندېښنه او وېره ده، چې په بل قدم کې به څه پېښ شي. په روښانه توګه چین د خپلو خلکو لپاره ډېرې ازادۍ ورکړې دي؛ زه پرې هېڅ شک نه کوم؛ خو دوی باید تشخیص کړي، چې دوی به څرنګه یو سیاسي سیستم یا نظام جوړوي چې زیاتېدونکې منځنۍ پاړکی د دغه سیستم دننه مساعد کړي. هغه هم په یوه داسې نړۍ کې چې خلک له خپلو مشرانو څخه د ډېرې حساب ورکوونې غوښتنې کوي.

کله چې هند او چین له یو بل سره پرتله کړو؛ نو فکر کوم چې چین خپلې ټولې وړې ستونزې حل کړې دي. دوی غوره سړکونه او غوره لوېې لارې او چټک رېل ګاډۍ جوړ کړي دي. دا ټول یې په داسې مجلله طریقه ترسره کړي دي، چې هند له خجالت سره مخ کوي؛ خو په بل اړخ کې هند خپله یوه ستره ستونزه حل کړې، چې دې بیا هند له چینه پینځه ویشت کاله وړاندې بیولی دی. هند به لکه اوسمهال همداسې لېونۍ او بې نظمه ډیموکراسي ولري. چین به په سیاسي لحاظ له نن څخه پینځه ویشت کاله وروسته څنګه وي؟ آیا هغه مهال به هم مندرین مشران وي؟ اوسمهال د چین کمونست ګوند په نړۍ کې تر ټولو لوی ګوند دی. هلته هر څوک د ډېوېډ په څېر برېښي. ډېری یې د دکتورا سند لرونکي دي. ټول یې انجنیران دي؛ خو دا بیا ټول چین نه دی. ځکه پر کومو خلکو چې دوی مشري کوي هغوی په پراخه کچه زارعین دي او دغه خلک په دې سیاسي سیستم کې منعکس شوي نه دي. د هغوی نظریات تر ډېره بریده د بېلابېلو میکانیزمونو لاندې فلټر کېږي. دا د چین لپاره یوه ستره سیاسي ننګونه ده که چېرې پرمختلل غواړي.

**روډیارډ ګریفیتس:** ډاکټر کېسنجر زما په فکر په دې برخه کې اوریدونکي او لیدونکي ستاسو نظر هم اورېدل غواړي؟

**هینري کېسنجر:** زه باوري یم، چې په راتلونکې لسیزه کې به چین له دې ستونزې سره لاس او ګرېوان وي، چې څرنګه به خپلې سیاسي ادارې له اقتصادي پرمختیا سره په تطابق کې راولي. کله چې پراخ اقتصادي بدلونونه رامنځته کېږي، خلک له یوځایه بل ځای ته کډه کوي. د زده کړو ترلاسه کول پراخېږي؛ نو له همدې ځایه له دې پوښتنې تېښته ناممکنه ده. دا به د نوې رهبرۍ لپاره یو له غالبو ستونزو څخه وي او دا پوښتنه به په یو یا یو نیم کال کې رابرسېره شي. پرته له دې څخه چې دا به لویدیځه پارلماني ډیموکراسي وي او یا د سیاسي نظامونو یو نوی شکل چې موږ تر اوسه نه دی لیدلی؛ خو عاقبت به یې دا وي، چې په دې کې به شفافیت او ډېر مشارکت شامل وي. زه باوري یم، چې د نوې رهبرۍ بدلون به د دې انعکاس وي. همدا لامل دی، چې زه باوري یم یو هېواد چې له یو داسې اساسي بدلون سره مخ وي، هېڅ وخت به داسې فرصت ونه مومي چې هغه دې پر نړۍ د تسلط موندلو ته پاملرنه وکړي؟!

**روډیارډ ګریفکس:** زه له نیال فرګوسن څخه غواړم، چې په دې تړاو خپل غبرګون وښيي.

**نیال فرګوسن:** ما یو څو کاله وړاندې یو کتاب لوسته، چې عنوان یې و: د آزادۍ راتلونکی. په دې کتاب کې یو تکړه ځوان ژورنالېست استدلال کړی و، چې لویدیځه دیموکراسي په تېره بیا امریکایي دیموکراسي له یو شمېر ستونزو سره مخ ده او دا ستونزې به یې نورې هم زیاتېږي. اوو فریده! دا خو ته وې!

زه درک کوم چې ډاکټر کېسنجر به هم له ما سره په دې تړاو همغږی وي؛ خو دی اړتیا نه لري، چې خپله ځوکۍ زموږ خوا ته راوړي. دا به زموږ ستره تېروتنه وي، که چېرې موږ فکر وکړو چې لویدیځه ډیموکراسي یو نړیوال ماډل دی، چې له اوس څخه تر ۲۰۵۰ کال پورې به یې هر څوک خپلوي. که چېرې تاسو همدا فکر وکړئ، چې د نړۍ راتلونکی به همداسې وي؛ نو تاسو به ډېر مایوسه وګړي واوسئ. له منځني ختیځه به یې پیل کړو، په دغو هېوادونو کې د لویدیځې ډیموکراسۍ چانس تر ډېره له صفر څخه تر ۵ سلنه دی.

د بدیلو ماډلو امکان هغه څه دی، چې ډیویډلي په خپلې پېلیزې وینا کې ورته اشاره وکړه. زه غواړم چې تاسو په دې تړاو جدي فکر وکړئ، چې دا خبره څه مانا لري. سینګاپور د چمبېلي له انقلابونو وېره نه لري. سینګاپور پخپله یو ماډل دی. چین هم تاسو د یو لوی او تکنوکرات سینګاپور په څېر وبولئ، چې یو ګوندیز دولت پکې په ارتقایي توګه پرمخ ځي او ځان پکې له تراژیدیو خوندي کوي لکه د شوروي د تجربې سقوط. زما دویمه نکته چې موږ پکې تر ډېره مخالف نظر لرو هغه دا دی، چې کله ملتونه له داخلي سیاسي ستونزو او ننګونو سره مخ وي؛ نو دوی تر ډېره د تهاجمي بهرنیو چارو پر لور ځي. دا د لرغوني او اوسني تاریخ له لوستونو څخه یو لوست دی. همدا لامل دی، چې زه فکر کوم، چې د سیاسي فشارونو پرمهال به موږ یو نشنلېست او ځواب ویونکی چین ووینو. ځکه نو زه وایم، چې یوویشتمه پېړۍ به یوه چینایي پېړۍ وي!